2 - AUG 1 6
Copy _____ 1963

کابل

(۱۰)

پر له پسې ګڼه ۵۱۹۸

علمی اجتماعی او ادبی

مرغومی (۱۳٤۱ش) کل د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹٦۲ کال دسمبر او اکتوبر

شمېر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱ـ	دوړو شعر	سیدشمس الدین مجروح	۱
۲ـ	دپښتو معاصر شعر ته یوه کتنه	سعدالدین شپون	٥
۳ـ	دپښتو شعری اوادبی قاموس	واسعی	۲۱
٤ـ	پښتو تصفیه غواړی	خادم	۳۱
٥ـ	دپښتو یوه قلمی نسخه	روهی	۳۸
٦ـ	زړه کلا	ننگ یوسفزی	٤۳
۷ـ	دیشې ماتکه	دنورزی ترجمه	٤۹
۸ـ	پاکې وینې	خیبری	٥۹
۹ـ	د شوروی پښتو بوها ند	اداره	٦٦
۱۰ـ	شعرونه	ممنون، مفتون	٦۹

امتیاز — دپښتو ټولنې

مشر — گل پاچا الفت

مسئول مدیر — محمد صدیق روهی

لیکونکی : سید شمس الدین مجروح

دوړو شعر

عنوان که د وړوپه نامه دی خو خبره لویه ده . دوړو شعر یادوړو دپاره شعر یعنی څه ؟ تاسې داسی شعر کله اوربدلای یاویلای دی؟ یقیناً به ځینولوستونکوته زما خبره ټوکه، مسخره ښکاره شی ځکه چه له دې عنوان سره د پښتنی د نیا شعر او ادب ډیر اشنانه ښکاری اما زه ټوکې مسخرې نه کوم جدی ګړیږم . ښه غوږ کښیږدیء ، مخصوصاً اې پښتنو ادیبانو تاسې !

آبله ورځ مې د کابل د مجلې په (۸) ګڼه کښې د (پښتو اولسی ادب) تر عنوان لاندې یومضمون و لوست دامضمون ښاغلی لایق لیکلی دی او دعا میانه ادب ، چوپانی سندرو یا کلیوالی شعرونو څخه بحث کوی . تاسو هر څه چه ورته وایيء منګر دامقاله د پښتو په پخوانی ساذج ادب باندې بحث کوی او د داسې اشعارو څه نمونې یې هم اخستی دی . دنمونې په ترڅ کښی ده دفراهی حافظ عبد العزیز په نامه دیو شاعر یوه چار بیته د مثال په توګه راوړې ده په حاشیه کښې لیکی چه دا شاعر ړوند ؤ او دفراه په خلکو کښې اوس هم ښه شهرت لری . معلومه شوه داهم لکه (مومر) (ابوالمعلی) او د خپل هم وطن (ابونصر) په شان ړوند ؤ زه دې شعر جلب کړم د هغې سر دا دی :

غوږ ونیسیء یارانو دی عجب شیرین ګفتار شروع می کړ غزل
وینا زما خوږه ده وایم تاسې ته اشعار سوری مې سو کوګل

مارتبې نیولی کشپ چای ورجوشولې چونګښې په مستی کښې خپلی سترګې تورولې
ولاړه چرمښکی وه افسانې به یې ویلې ما هی پر ې را ولاړ شو که چپه ئې سماوار
الخ . . . . . .

ماته واړه اوده ړو احساسات اودوړو دنیا ناڅاپه ترسترګوسترګوشوه. مافکر کاوه
که دامضمون واړه واوری څومره به یې خو ښ کړی اوڅومره دا نګونه به ورته
ووهی اوڅه اټن به ورته واچوی. زه په دې فکر کښې ولویدم چه ددنیاپه ټو لو
ژبو کښې دوړو دپاره شعرونه، دوړو دپاره قصې شته پرون لادپارسی په ادب کښې
دموش اوګربه غوندې کتاب لیکل کیده. دوړوماشو مانو د پاره تر هغې خو ږه
او دلکشه لوبه یافصه بله نه وه دادپښتو په ادب کښې تردې عنوان لاندې و لې څه
نه لیدل کیږی. مغربی عالم خودوړو دپاره مخصوص شاعران لری دوړو دپاره
مخصوصې جریدې اومجلې وباسی دوړو دپاره مصور، ښکلی ښکلی دلنډو قصو
کتابونه شایع کوی. نوموږ دا کار ولې نه کوو؟ زمونږ ګوندې په خپلوصغیرانو
رحم نه راځی اومینه ورسره نه لرو؟ رشتیا مونږ دخپلو مشرانو څه قدر وکړ چه
پاتې شوصغیران. دپښتنو لوی لوی رجال ترپرونه دګمنامی اومقیدی په زاویه
کښې پراته وو چه نن ورته نوی نسل ورو ورو ملتفت کیږی. څو مره نور به
لاتراوسه زموږ تریاد لاندې نه وی راغلی. ددنیا دتاریخ په صحنه باندې داد شپو
اوورځو تورې اوسپینې پردې راکوزې شی دمعاصرو تماشابینانو له سترګو هرڅه
پناه کړی. دادتاریخ نګار قوی لاسونه غواړی چه داپردې پورته کوی او بیاخلك
دتاریخ دډرامې دپهلوانانو غورزې پرزې ووینی. خبره اوږدیږی لوی به پریږدو
زموږ مدعا په وړو کښې ده.

هلته په مغرب کښې (هرچرته اوهرځای) عظیمی کارخانې لګیا دی دوړو

ماشومانو دپاره دلوبو اومشغولا سامانونه‌جوړوی. هغې‌بوخوا لوی اوعظیم‌تانکونه دیو پیکره بمبارډ جټونه جوړوی چه‌ددوی لویان پرې‌دنیا ورانه کړی خو دبلې خوادهغې وړو کی موډل دخپلو کوچنیانو په‌لاس کښې هم‌ور کوی‌چه لوبې‌وشتې پرې‌و کړی . منګرمونز په‌خپلو صغیرانو رحم‌نه کوو.

ښه‌دصنعت‌څخه خومونږ بې‌بهرې یواو کله موږخپل نورضروریات پوره کړه چه‌پاتی شودوړو سامان . مګردشاعر، دپښتون شاعرپه دنیا کښې‌ولې دوړو برخه نشته‌اودی دهغوی دپاره ولې‌څه‌نه‌جوړوی؟ دپښتنو شاعران‌ولې دو ی دیا ره کله کومه‌لوبه، کوم‌غزل، کوم‌نظم او کومه‌قصه نه‌وایی؟ګوندې‌شاعران‌لوی خلک‌دی، جدی‌خلک‌دی اوخپل ګران وخت‌دوړو سره‌نه‌ضایع کو ی مګرنه !شعر خویوازې جد یت نه‌دی ،شعرخویوازې لویې‌لویې‌خبرې‌نه‌دی شعردبشری‌احسا ساتوآینه‌ده. د روحی تاءثراتو اظهار دی شعر دخیال‌اود تصور دجهان سر ګذشت دی چه د دې دنیاد لو یواووړو پیښو بیان کوی نودشاعرپه عواطفو کښې، دده دخیال اود تصور په‌دنیا کښې کومه‌لمحه هم‌دطفل‌اوطفولیت‌دیاد ګیر نې‌دپاره‌نشته څه؟ولې؟ راځی یو بل حساب‌و کړو. که‌مونږدشاعرعمرشریف پنځوس کاله‌فرض کړو(که‌پنځوس کاله‌تاسونه کم‌ښکاری خفه کیږی‌ء مه‌دمثال‌دپاره‌وایم) په‌دې‌پنځوس کاله‌عمر کښې اول‌دطفوللیت‌او بیادځوانی‌او بیادپخوالی‌اوزړښت‌دوردده‌په‌دې‌پنځوس کاله‌عمر کښې څه‌په‌لوبو اوپه‌غفلت؟څه‌په‌عشق اوپه مستی اوڅه‌دکوراو کهول‌په‌سازولوتیریږی په‌دې پنځوس کاله‌عمر کښې‌زماپه ګمان که سړی‌دډیرې‌برشورې عشقی‌ما جرا سره مخامخ شی هم‌ګمان‌نه کوم ترپنځو کالو اویاترلسو کالوزیات‌دوام‌و کړی دا باقی‌عمرخوسړی کورشی اوعایله‌تشکیل کړی‌اوداطفالوماشومانو سره‌ترمر ګه روزګار تیریږی اودهغوی‌روزنه اوتربیه، ګټه‌و ټه‌د ه‌ته‌ورپه‌غاړه‌وی.

په لومړنی عمر کښې خودی پخپله طفل اوماشوم واودهغې خاطرات هم تر ډېره حده دده په شعور او تحت الشعور کښې ژوندی دی. نو دا دشعر دنیا څرنګه یوازی دځوانی اودمستی ددغه پنځویا لسو کالو دوارداتو دپاره وقف شوی اودزلف او کاکل خط و خال، وصل او هجر خبرې کوی، اودوړو کتوب دخاطراتو هیڅ انعکاس پکښې نه لیدل کیږی. زه نه وایم جمال دوستی ګوندې دشعر کار نه دی او یا بیځا یه خبرې دی زما په عقیده خو شعر پیدا شوی ددې کار دپاره دی دا نور څه خو شاعران لکه دبیکار پیټی پرده اچوی. خواخر په طفل کښې ډېره ښکلا او ډېر کښېښته اودطفولیت په دنیا کښې خو ډېر رموز او واردات شته چه دشعر دپاره دالهام ښه منبع کیدای شی اود شاعر دپاره بله لویه نه تمامیدونکی دمضمون ذخیره موجوده ده نو دازمونږ شاعران ولې ددې منبع نه الهام نه اخلی او ولې ددې ذخیرې څخه استفاده نه کوی.؟

لکه چه مونږ او تاسو له خوږو نغمو او شعرونه، تخیلاتو څخه خوند اخلو لکه چه په مونږ او تاسو کښې دجمال دوستی تنده پرته ده او داتنده په شعر او دهنر په نورو مظاهرو ماتوو دغسې اطفال هم شعر ته، موزون کلام ته، سورشین او برګ کانی کالی ته واشتیاق په ستر ګو ګوری او هغې ته احتیاج لری او له هغی نه لذت اخلی. تاسو به دوړو دلو بو ته کوپه وخت کښې ددوی له خولې ډېر مقفی (مګر بیمعنی) جملې اوریدلی وی. داد وی د شعر دوستی ژوندی مثال دی دوی قصی ډېرې خوښوی دوی دنیا او دمور خولی ته چه په قصه مشغولې وی په ډېر دقت او اشتیاق ګوری. نو دشتیا مونږ او تاسې هغه وخت چه شعر لیکو هغه وخت چه زما ن جوړو و، هغه وخت چه ډرامه سازوو آیا کله موهم دوی دپاره څه لیکلی دی؟ هو! ما لیکلی دی په تمام عمر کښې دوه پارچی چه یوې نثر او بلې دبلبلو د زیارت په نامه باندې نظم دی چه هغه مادوی ته اهداء کړی دی اوس ستاسې واردی ملګر و بسم الله!!

سعدا لد ین شپون

د پښتو معاصر شعر ته یوه کتنه

دریمه مقاله

زما دلومړی اودویمې مقا اې د کتلو څخه ورو سته سړی دپښتو شعر ددریمې دورې دلومړی اودویمې مرحلې مقا یسه په ښه توګه کو لای شی . په هغه کښې یوشی چه ډېر نظر جلبوی دادی چه د ویمه مر حله دلومړی متکا مل شکل و. دویمی مرحلې پښتو ژبه بیاد شعرژبه کړ ه اودپښتودطلایی عصر عنعنه یې بیر ته را ژوندی کړ ه . دشا عرانو شمیر زیات شو اوله هرځا یه پښتا نه شا عرا ن را او چت شول . مشا عر ي ډېرې شو ې ا و پښتو شعر له ز ړ و قلمی نسخو څخه دحروفی چا پ په بڼه راووت دطلا یی عصر معا دل اشعا رپه دې مرحله کښې وویل شول او درحمن عنعنه کمال ته ور سو ل شوه .

عا دت دی چه هر شی چه کمال ته ورسیږی دیوه ر کو د سره مخامخ کېږ ی. هنر من هم په دې تکاملی جریان کښې دیوه ژوندی عضویت سره مقایسه کیدای شی همداسې چه دطبیعی عوا ملو اومحیطی شرا یطو په اثر یو ژ و ند ی عضو یت یاد حیوان یوه نوعه مثلاً ډ ېنو سار را پیدا شی همد ا سې هم د ا جتما عی او اقتصا دی شرا یطو په اثر یوه ادبی نو عه پیدا کېږی . ډرا ماد هنر یوه نوعه ده چه په پخوانی یو نان کښې یې د دیالوګ (د د ووټو کمارو دسوال وځواب)

څخه تکامل کړی دی . داتن آز ا دو بنا ر یو غو بنتل چه خلك بنا ر و ته جلب کړی نو یې د ستیجو د پا سه خلکو ته تبلیغو نه کول او دبنا ر ی ژ وند ښیګڼې یې خلکو ته ښودلې - په همدې ا ثر ډ را مه روا ج شوه او تکامل یې وکړ . مقصد دا چه دهنر هره نوعه او هر شکل ځا نته دپید ا یښت تا ر یخچه او دا سې عو امل لری چه دایې مینځ ته را ایستلی ده . دشعر نو عی او افراد هم همد اسې د ر و ا خلی ء . که شعر دادب یو ه نو عه وبو لو اویه ا فر ا د و یې و و یشو نو په جنګی (Epic) عشقی (Lyric) ا و تصو یر ی Descriptive افراد وویشل کیږی چه بوللې (ستاینې اوویاړ نې) په جنګی .اوغزلیا ت ر با عی او نور شکلونه یې په عشقی شعر کښې راځی او په د غو کښې یا دد وی نه بهر که کله دطبیعی اوصنعتی منا ظرو تعر یف کیږ ی نو په تصو یر ی شعر کښې را ځی د یوې ادبی تو عې پیدایښت مود یو ه عضو یت د پید ا یښت سره تشبیه کړ همدا سې چه ډ ینو سا ر (۱) دطبیعی شرا یطو سر ه د نه مطا بقت په ا ثر له مینځه ولاړ او ا و س یې یواځې فو سیلو نه او هډ ونه لید ا ی شو همداسې هم یوه ادبی نر عه داجتما عی شرا یطو برابرید وپه اثرراځی وده کوی او کله که اجتما عی شر ا یط چه د ا یې ز یږ و لی ده بد له شی د ا نو عه محوه کیږ ی .

ددویمې دورې ادبی شکلونه آن ددریمې دورې تر دویمې مرحلې پورې رارسیږی - یووارو ده کوی او بیاله ودې لویږی -اوله څه مودې وروسته بیاوده کوی اوخپل معراج ته رسیږ ی .

(۱) دینو سا ر یو لر غو نی ژوی وچه ما قبل التا ریخ کښی دو زن دورند وا لی له امله محو شو

تر دې وروسته نوپه پښتو شعر کښې یو انقلابی تحول ګورو چه کو زبه ددې تحول یوڅونمایندګان پـه مختصر ډول معرفی کړو خوپخوا تردې چه ددغو شاعرانو نمونې وړاندې کړم او پـه شعریې څه ووایم لازمه ده ددوی په محیط هم یوه لنډه تبصره و کړم ځکه شاعردچاپیریال اومحیط سره دومره تعلق لری لکه ماهی یې چه داوبو سره لری او دماهی دفعالیت اوژوند دمعرفی دپاره لازمه ده چه هغه پـه اوبو اوحرکت کښې مطالعه شی او که له اوبو وایستل شی اومطالعه شی نویې دژوند فعاله برخه زمونږ له سترګو پټه پاتې کیږی.

زمونږ ددغې مرحلې (ددریمې دورې دریمه مرحله به ورته ووا یو) شا تـه زورور قوتونه اړم دی اوپـه شکل او محتویاتو یې اثر کوی .

داقوتونه ټول دیوه عنوان لاندې خلاصه کیدا ی شی چه هغه پـه بین المللی جریان کښې دافغانستان ګډیدل دی.

داعمومی عنوان بـه پـه دوو وړوڅانګو وویشو (۱) دنړی پهسیاسی جریان کښې د ا فغا نستا ن ګډون او (۲) د نړ ی د علمی جر یا ن پـه مسیر کښې دافغانستان واقع کیدل .

اوس بـه دهرې څانـګی پـه باره کښې لږ څه توضیحات ورکړو .

سیاسی جریان : دافغانستان اوهر بل هیواد خارجی سیاست د تاریخ په بېلو بېلو مرحلو کښې دداخلی سیاست انعکاس دی.

دافغانستان دخاورې وسعت هم دهیواد دداخلی اوضاعو تـابـع ؤ . ډېر کله ګاونډیو هیوادو دافغانستان له خاورې څخه تړانګې بیلې کړې او دافغانستان ساحه یې وړو کی کړې د .

دغسې وقایعو تاریخ کـه وپلټو ګورو چه افغانستان په داخل کښې ډېر ضعیف او بالعکس هغه وخت چه افغانستان نوروتـه لاس ورغزولی دافغانستان داخـلی

وضعه (داقتصاد او کلتور ته پلوه) ښه وه . البته کله د تأثیر جریان ددې په عکس ؤ . خو په عمومی صورت هغه موفقې حملې او برغلونه چه دافغانستان په خاوره شوی دی معمولاً دداخلی ضعف او ناتوانی په وختو کښې شوی دی نه پوهیزم دهیواد مؤرخان به په دې کښې څه وایی چه که دچنګیز تاړاك دغزنوی محمود یاداحمدشاه ابدالی په وختو کښې راغلی وای آیا بیا به هم فاتح ؤ .

په هرصورت دافغانانو تاریخ چه سړی له لرغونو مهالو څخه زمونږ عصرته رارسوی په دې جریان کښې یوه ټکې ته متوجه کېږی هغه دادی چه افغانان او په دوی کښې بیامخصوصاً پښتانه له Extroversion څخه د Introversion(۱) خواته ځی . دتیمورشاه ابدالی له وخته بیا دحبیب الله خان دامارت ترلسواخر و کلو پوری داسیر په بیړه تعقیبیږی . افغانستان په دغه موده کښې په بیړه خپله لمن له هند او ایران څخه را نغاړی او سنګر په سنګر ځان خپل مرکز (کندهار او کابل) ته راتژدې کوی . په سیاسی او عسکری اصطلاح مدافعوی حالت اختیاروی . ددې شا ته کید وپو علت خارجی زور دی چه دباندې له خوا په افغانستان واردیږی او بل داخلی جاه طلبی او ملوك الطوایفی ده چه دتیمورشاه له زمانې پیل کېږی اودامیر حبیب الله خان ترعصره رسیږی .

امیرعبدالرحمن خان ددغې ډلې اخرین غړی دی چه دګندمك دتش په نامه معاهدې په اثر یې دافغانستان طبیعی (نژادی - لسانی - مذهبی او کلتوری) سیمه له لاسه ورکړه .

---

(۱) Extroversion هغه حالت دی چه په هغې کښې قواوې خارج ته متوجه وی introvert ددې په عکس دی

افغانستان داصفهان او ډیلی څخه پـه اسانـه لاس واخیست دا ځکه چه هند دهندیانو طبیعی مال دی او صفهان دایرانیانو تاریخی حق . داځکه چه پـه هند کښې هندیان دیو نژای ، کلتوری او تاریخی واحد په حیث پراته دی اوداحق په مقاولو او په سیاسی اجباری معاهدونه فسخ کیږ ی .

همدا سې هم دپښتنو سیمه د کابل او کندهارڅخه نیولی دپیښور ترهغوځایو پورې پرته ده چه دهندی کلتور سره تصادم کوی .

پښتانـه هیڅکله د کلتور ، ژبې ، دتاریخ لهحیثهدهندیا نو ملگری نه و و او داډیر طبیعی حقیقت دی . د پښتنو سیاسی او کلتوری مرکزونـه یا پـه کابل کښې یاپه کندهار کښې او یاپه ننگرهار او پیښور کښې وو .

هیڅکله هم دامر کز په راولپنډی ، کراچی، لاهور او ډیلی کښې نه و همدغه وجه ده چه دامیر حبیب‌الله‌خان دپاچایی په اخرو کلو کښې افغانی منورین متوجه شول چه داسیمه په ډیره غیر طبیعی توگه په هند پورې تړل شوې او دپښتنوحق دی چه په ډیره ظالمانه بڼه دپرنـگی استعمار له خوا غصب شوی دی دافغا نا نو داخبرتیاورځ په ورځ زیاتیده او ورسره یې دردهم زیاتیده ځکه دزخم درد دشعور سره متناسباً ارتباط لری . نوافغانی منورینو داستعمار دجغ څخه د پښتو نستا ن دخلاصی غږ پورته کړ نوگورو کله چه افغانستان له تورو خوا وو خپل‌سیاسی تعلقات شلوی او له خپل ځان څخه گرچاپیره یوه کرښه را کاږی خو دډیورنډ لیکه په رسمیت نه پیژنی او دپښتونستان دخلکو سره خپل علایق نه شلیدونـکی گڼی همدغه پښتونستان په را وروسته کلو کښې دا فغا نستا ن او خارجی نړ ی داتصال کړی جوړوی او دافغانستان په خارجی سیاست اثر کوی .

ځکه افغانستان چه کله خپل اوسنی سرحدات ټاکی نویې هغه پخوا نی تعلق

دنړۍ سره شلیږی او دملی ګټو (هغه څه چه ورپاتې دی) د ساتنې د پاره دبیطرفی سیاست غوره ګڼی خو دپښتونستان په برخه کښې بیطرف نشی پاتې کیدای ځکه پښتونستان د حق او غصب مسأله ده او هغه هم داسې حق چه دافغانستان په ارضی تمامیت او راتلونکی سیر او سرنوشت نیغه اغیزه لری نو په دې مسأله کښې به دافغانستان بیطرفی دهرملی بین المللی حقوقی منشور څخه خلاف کار وی . له همدې وجهې دافغانستان بیطرفی دپښتونستان د خپلواکی دحق له مطالبې سره اوږه په اوږه دافغانستان خارجی سیاست تعیینوی کله چه افغانستان بې له دې چه په کوم خارجی بلاك کښې شامل شی دناخپلواکو هیوادو دارمانو سره همنوایی کوی ګویا دپښتونستان حق تائیدوی . په بل عبارت افغانستان بین المللی جریان نه دپښتونستان له لارې ورداخلیږی اودالارې چه په هره خوا بیایی ورسره ځی. افغانستان مجبوریږی چه ددې سیمې د آزادولو دپاره ځان تقویه کړی. له یوه پلوه له دوستو هیوادو څخه وسله اخلی او له بله پلوه دهغوی په مرسته داخلی اصلاحات یعنی هیوادته تخنیکی وده راولی سر کونه جوړیږی فابریکې دریږی کانا لونه او ټونلونه ایستل کیږی هوایی ډګر ونه پرانیږی اوهره ورځ دهیواد دښارونو په اسمانو کښې دجټ الوتکو شنهار ګډوی دلومړی ځل دپاره افغانستان دیوه پلان په اساس پرمخ ځی یعنی د کلتوری او تخنیکی مؤسسو پر مختګ دیوه ټاکل شوی سرعت په یوه معین سمت وی. البته داپرمختګ او بیداری ټول دیوه ملی شعور له بین المللی جریان څخه متأثر شوی او په دې بین المللی جریان کښې پښتونستان لوی لاس لری.

علمي جريان:

د نولسمي او په تيره دشلمې پيړۍ دراتګ سره دنړۍ په علمي جريان کښې يو انقلابي تحول راغی دا تحول داسې وچه دبشر روح يې ولړزاوه او دلومړی ځل دپاره يې خپلو کړو او فکرته متوجه کړ. انسانان متوجه شول چه ددې علمي پرمختګونو سره بايد انسان هم بدل شي. کله چه پوهاتو دانسانانو اجتماعي روابط، معتقدات، نګير نې، شعار ونه او نورې حقوقي او فکرې مؤسسې وڅيړلې نو دې نتيجې ته ورسيدل چه دانسانانو ژوندا کثر ددوی په هغو معتقداتو بنادی چه دوی په لاشعوری ډول منلی او په علمي منطق برابر نه دی.

انسان په دې روږ ددی چه تقليدی ژوند وکړی او خپل داتقليد ورته مقدس او ترټولو لوړاو منطقي ښکاره شي. ددی په ځای چه يوشی حق وبولی او بيايې ومنی داسې کوی چه يوشی اول منی بيايې حق بولی او استدلال ورته جوړوی. ددوی د منلو دپاره همدا کافی ده چه ددوی پلرودې يوشی منلی وی ددوی اجتماعي روابط (چه دوی يې عادلانه بولی او خپل ټول اخلاقي معيارونه دهغې په کولو او نه کولو مو کول ګڼی) اکثر ديوی معينې يا څو معينو ډلو په ګټه برابر جوړ شوی وی. هغه اخلاقي ارزښتونه چه دوی ته ابدی او عمومي ښکاری اکثر موقتي او محلي وی. هغه ايډيالونه چه دوی دهغې دپاره ځانونه قربانوی ددوی دفعال ژوند سره هيڅ نه جوړيږی او ددوی دګټوله نظره په دې قرباني نه ارزی. اکثر هغه اوامر چه دوی يې مقدس ګڼی او په کولو يې ځانونه داسې مکلف بولی (چه که هغه ونه کړی اسمان رالويږی) ددوی دتقليدی ذهن مولو ددی په بل عبارت اکثر هغه بوتان چه دوی يې د ګټې دجلبولو دپاره نمانځی دوی ته دګټې درسولو قدرت نلری.

ساينس داتلسمې پيړۍ له پيل څخه راپه ديخوا په دغو مطلقو اصولو حمله کوی

اوټول عنعنوی اورګانونه اوموسسې یې مقابلې ته راولاړیږی خو په شلمې پیړۍ کښې ساینس غالبیږی اوله هغې وروسته دتعمیم تبلیغ کوی همدغه دتعمیم په وخت کښې دی چه ساینس له مشکلاتو سره مخامخ کیږی. دمذهب سره دمجادلې په وخت کښې ساینس ځکه کامیاب شو چه مذهبی استدلال یې په تجربی دلایلو مات کړاو د کلیسا ساتونکو په هیڅ ډول ونشو کړای په خپل ظاهری لفظی استدلال دداسې منطق سره مجادله وکړی چه هغه سړه اوسپنه په هوا کوی اوله او بو څخه داسې برق پیدا کوی چه د کرسمس ونې ورباندې روښانه کیږی نه دداسې تورو ماتول دومره مشکل کارنه وپه تیره دداسې کامیابیو په ښودلو چه له هغی سترګی نشوی پټیدلای مشکله یې داده چه ساینس په اسانه ونشو کولی چه په خلکو ځان ومنی. دخلکو عملی ژوند په لاشعوری توګه دساینس له سیمې بهر په یولړ تقلیدی اوموروثی معتقداتو بنادی او کله چه ساینس وغوښتل ددوی ژوند په خپل اساس برابر کړی دخلکو د مقابلې سره مخامخ شو. مقصد له دې مقابلې څخه دانه دی چه مذهبی مشران عالم اوساینس پوه تکفیروی بلکه دادی چه دبشر ذهن دتاریخ دپیل څخه راپه دیخوا دومره په غیر علمی محور چورلیدلی چه اوس یې دچورلید اسمت راګرځول مشکل کاردی. خلك راکټونه اومصنوعی سپوږمۍ ګوری خولاهم که ووایو مڼه دجاذبې دقوت لاندې ځمکی ته رالویږی نه یې منی او وایی چه دمڼی در الویدو دپاره هیڅ علت ته احتیاج نشته او بی له دې هم رالویږی او داځکه چه شمال خو نشته چه پاس یې بوزی.

زمونږ دجغرافیې ښوونکو به ویل چه (دجغرافیې علم وایی چه ځمکه دنارنج په شان ګرده ده اوله لمر څخه ګرچاپیر چورلی تاسې یې ومنیء خوعقیده ورباندې مه کویء) زه ډیر ډاکټران پیژنم چه نوروته وایی دسبواو وریجو او به مه تویویء

اوپه‌خپله دوی‌سره کړی سابه‌اوپیاز بریان لرو نکی صافی‌پلو پخوی ډ یر داسې خلك‌پیژ نم چه‌ماوراء الطبیعی‌قوت نه‌منی خوداسویلی‌ایستلو په‌وخت کښی دخدای نوم‌یادوی اودځملاستلو په وخت طیبه کلمه تیروی ماډیر خلك لیدلی دی چه‌د روغتونو اوشفاخانو په گټو پراته‌دی اود ډاکټر دواخوری اوعملیاتو ته‌یې غاړه ږدی خودمکروب او ویروس موجودیت نه‌منی . زمونږ کړه اوعادات ا کثرډیر محافظه کارانه‌یون اوبدلون کوی او دانقلابی بدلون‌سره‌مخالف‌دی. دفکر بدلون نظر، دعاداتو بدلون‌ته اسانه‌دی.

لکه‌گورو چه‌ساینس دتعمیم‌په‌چارو کښې دمشکلاتوسره‌مخامخ کیږی‌اوخلك یې به‌اسانه نه‌منی‌او دژوند په‌خصوصی مواردو کښې یې نه‌استعما لوی . ترا وسه پووې ساینس بشر ته‌یوخارجی اوځانگړی‌شی ښکاری‌او هغې‌ته حق نه و ر کوی چه ددوی په معتقداتو ، مقدساتو او عنعنوی ارزښتو کښې گوتې‌ووهې .

کیدای‌شی چه‌د اجتماعي علومو په بیابیا تجربو وښودل شی چه‌دیوی ټولنې اجتماعی روابط اوارزښتونه بیځایه‌او بی‌گټی‌وی او کیدای‌شی چه‌زمونږ د کلتور ځینی‌خواوې نیمگړی وی، کیدای شی چه‌زمونږ تیرونیکه‌گانو دې‌سهوې کړی وی یادې هغه‌شرایط اوس‌له‌منځه تللی‌وی اودتیرو پلرونونگیرنې او معتقداتدې زمونږ دعصر سره‌اړخ ونه‌لگوی .

روحیات په‌تیره دفروید سایکا لوژی دبشر ذهن چه له‌آره مقدس اود الهام څخه‌ډك اواسرارامیزځای‌و تشریح کړ اودهر ذهنی فعالیت مرکزونه‌یې و ټاکل اوهغه‌ابدی موجودچه‌نوم‌یې عشق‌دی فرویدپه‌ډیر نامهربانه لهجه‌دجنسی غریزی یونغښتې شکل‌وگاڼه ارزمونږ خوبونه‌یې (چه‌مونږ الها مات بلل‌اوپه ویر ې او احتیاط به‌مودیوه کتاب‌له‌مخې تعبیرول) زمونږ دورځنی‌ژوند اودماغزو دلاشعوری

سیمې دفعالیت لکی وبللې. دفرویدسایکالوژی تر ډبره وخته حتی په خپله درو حیاتو عالمانو نشو منلای عادی خلك خولا پریږدیء ډاروین، انسان چه اشرف المخلوقات وله ملکوتی عالم څخه ځمکې تل ته را کوز کړ اود هغه هډونه (اسکلیټ) یې دنورو ژوو په قطار کښې کښیښودل اوهغه یې دچینجی بومتکامل شکل و باله.

نو په دی ترتیب دعلماؤ د کشفیاتو اوتجربو له مخې داسې ښکاری لکه انسان چه دخپل تاریخ دپیل څخه ترنو نسمې اوشلمې پیړۍ پورې بو لاشعوری تقلیدی او نیم ویښ ژوندون کړی وی اودخپلو غیرواقعی معتقداتو په پاراشوټ کښې دمځکې له زیږه واقعیت څخه ډیر لوړ اوسیدلی وی. ډاروین، فروید، پاستور اوداسې نور پوهان ددغه پاراشوټ بندونه یو یوشکوی اوهر یو انسان دوا قعیت ځمکې ته رانژدې کوی.

د پخوانی المان دنازی گوند دنژادی امتیازطر فداران ددغې عنعنوی نظریی آخری اوترټولو عصری نمایندگان وو هغوی ویل چه آرین نژادارثاً ترنو رولوړ اونویې کلتورمترقی دی. نازی المان یوه ډله پوهان هم ددی نظریی ثبوت ته وکمارل خو بالاخره دوی له خپلې نظریې سره له مینځه ولاړل اود دویمې عمومی جګړی څخه وروسته دغربی نړۍ دپاراشوټ آخری مزی هم وشلیده اوانسان کوزمځکی ته راولوید. کله چه بشر ځان دترخه او بی لحاظه واقعیت سره مخامخ ولید، نو یې په دوو شیانو کښې تغییرراغی:

(١) مجبورشو چه خپل روابط له کائناتو سره بدل کړی یعنی په نوی نظرورته وګوری اومعامله ورسره وکړی (٢) دانسانانو دذات البینی روابطو په نا معقولی پوه شو اولازمه یې وګڼله چه باید هغه اصلاح شی.

دغه علمی انقلاب دنشراتو، راډیو، سینماګانو اوراشه درشه په اثر عام شو اود

نړۍ هر کوټ ته ورسید . افغانستان هم تری پاتې نشو افکار په نامرئی توګه یون کوی اوله ملي سرحدو څخه بی پاسپورټه تیریږی دنړۍ دبیلو بیلو هیوادو منورین اوس په تقریبی حساب په فکر کښې یو بل ته ډیرورته دی اودا دهمدې تعمیم له بر کته یاله شامـته دی .

دې لوی او بی ساری تحول په نړۍ دوې چارې و کړې . په زړواو په تیره دغرب په زړو ټولنو اوهیوادو کښې یې تشویش وا چاوه هغوی یې له را تلو نکی ز مانی تا امیده کړل ځکه هغوی دپاخه کلتور اومجلل تاریخ خاوندان وو او د هغې له بر کته بې نور ملکونه لاندې ایستلی وو اوخپل تمدن ورته نه محوه کید ونکی او ابدی ښکا ریده داچه ددوی تخنیکی پر مختګو ددوی دمدنیت سره موازی حرکت نه کاوه اودالبرت شوایزر پـه عقـیده دوی ورته عقیدتاً اوذهناً آماده نه و دنو یې یه دوی کښې یو ډول بدبینی اومـایوسی ایجـاد کړه چه دعجیبو صو فیانه اوبی با کانه فلسفو او هنر ودرا وتلو موجب شوه لو مړی او دو یمې جګړې د دو ی ټول هدفونه دو ی ته بی ار زښته کړ ل او یو عجیب هر ج و مر ج او بې پروایی یې یه دوی کښې خپره کړه

په نوواو په تیره دشرق په نوو ټولنو اوهیوادو کښې دغه انقلاب بل اثرو کړ اویو خوشبینانه اضطراب یې ورته راوړ . دوی یې خپلو هغو منابعو او طاقتو ته ملتفت کړل چه تراوسه پورې عنعنوی نګیرنو اوزاړه کلتور دهغې استعمال ته نه وو پرې ایښی . طبعاً یو څه اضطراب هم ورسره راغی چه هغې و ارخطایی او ډاراو ذوق ته ورته دی چه ماشومان یې داختر په شپه لری یایې مونږ کله کله دداسې ملګری دلیدن په حال کښې احساسوو چه له ډیره وخته مونه دی لیدلی یایې دزیرې دبرقی ماشین داول ځل استعمال په وخت کښې احساسوو هر نوی شی

بواضطراب هم دځانه سره راوړی خولکه پاس چه مو وویل دایو خو شبینا نه اضطراب دی .

زمونږ ددې مرحلې په شاعرانو کښې داداضطراب ، خوشبینی ، زړه ورتیا دعریانی وټ مخالفت ، نوی نظر ، احساس لیدل کیږی تردې مرحلې پخوانو شاعرانو درحمان اوخوشحال په پله یون کاوه اوطبعاً ددې مرحلې شاعران باید دهغوی په پله روان شی خوداسې نه کوی بلکه دخپل نوی نظر په رڼا کښې خپله لار ګوری او تعقیبوی یې زمونږداډله شاعر ان له هغو علمی تحولاتوسره چه ماپاس یاد کړ ل له نژدی نه اشنادی اوداجتماع په باره کښې هم د نوی نظر خواته هڅه کوی .

پخواله دې چه زه دد غوشاعراتو نمونې ور کړم یوبل ټکی هم یا دوم اوهغه د دپښتونستان او افغانستان دشاعرانو ارتباط دی . لکه پخوامو چه و ویل دراډیو اخبار او نورو مخابراتی وسیلو په ذریعه دنړۍ دبیلو بیلو هیوادو خلك یودبل په فکر خبر شول زمونږ اوګاونډی پښتونستان په باره کښې هم همدا خبره صدق کوی . هغوی د افغانی لیکونکو په ایډیالواو سبکو خبرشول اوپه دې وپوهیدل چه هلته دډیورنډله لیکې ها خوازمونږ دپیښور درحمان ا و خوشحا ل عنعنه ژوندی پاتې ده اوخلك لګیادی په پښتوژبه شعروایی اونثرونه لیکی . زمایوملګری کوټې ته لاړو او کیسه یې کو له چه هلته به خلکو له ماپو ښتنې کولې «رښتیاده چه د کندهاردښاردمغازولوحې په پښتولیکلی کیږی؟» داتعجب دپخوانووختو دناخبری ښه دلیل دی. خوصحنه ډیره ژر بدلیږی اوزړه اشنایی چه دډیورنډدلبکې ددواړوخواوپښتنوپه مینځ کښې وه راژوندی کیږی اکثرګورو چه دپښتونستان زیاتو شاعرانو اول په اردو شعر وایه بیا یې پښتوته مخه و کړه



یوه کوچی پیغله په آزاده فضا کښې دمیږو رمه پیاپی .

(دمطبوعاتو عکاسی)

اوداځکه چه اول ادبی عنعنه تري ور که وه او کله چه پوه شول چه د اعنعنه په افغانستان کښې په هماغو مره شدت روانه ده نویې داستعداد نیلی ملونه. پښتوته واړوله. دافغانستان ددویمې مرحلې او حتی داوسنی مرحلې شاعران هم دپښتونستان له شاعرانو څخه متأثر شوی دی اوددې متقابله اثر په نتیجه کښې دپښتونستان اوافغانستان دپښتو شعرونو ورته والی هره ورځ زیاتیږی. دستر ګورحمزه شا ګردان په افغانستان کښې ډیر دی اوافغانستان ډیرو شاعرانو داجمل پیروی کړې ده. د کابل اوپیښور راډیوګانو پښتو پروګرامونه ددې ادبي عنعنې په راژوندی کولو اود هغې په غنی کولو کښې لوی لاس لری .

ماچه دمقالی په سر کښې ویلی وو چه ادب هم ژوند یو عضویتو په شان ځانله دتکامل اوودې اساسات لری یومورد یې همدادی. په سیاسی توګه د کابل راډیو اوپیښور راډیو په دووسره دښمنو قطبو کښې فعالیت کوی او یودبل خبرې شنډوی خوددې مجادلې په مینځ کښې اودهغې سره سم ادبیات تکامل کوی اوژبه غنی کیږی. دادبی عنعنې اوتکامل له نظره دا اخباری اوراډیویی مجادلې دمشاعرې حیثیت لری چه په نتیجه کښې ښه شعرمینځ ته راولی او جایزه ور کوی اودژبې ادبی معیارپرې جګوی نوګوروچه ددې ارتباط په نتیجه کښې یومشابهت مینځ ته راځي دامشابهت هم فکری (علمی جریان و ګوری) وی هم سیاسی (سیاسی جریان و ګوری) اوهم داد بی سبك اوادا .

په دغو نوو شاعرانو کښې چه اوس یې نمونې وړاندې کوم مادرې تنه انتخاب کړی دی چه یو عبدالغنی خان غنی دی ، بل اجمل خټك دی اودریم سلیمان لایق . دوه لومړنی ښاغلی دپښتونستان دی اودریم دافغانستان .

دادرې تنه شاعران کله په ځانګړی ځان او کله په تر کیبی صورت زمونږ د

عصر د علمي او سیاسي جریان نمایندګي کوي . غني خان دهغه پراخ نظر نماینده دی چه دشلمې پیړۍ یو پوه پښتون یې بایدولري. دډیرو مهمو او مشکلو موضوعاتو په باره کښې له ملنډوډك شعروایې او شعرپایه یې دژوندانه په وچ کلك واقعیت ولاړه ده .

اجمل خټك له بله بلوه ددواړو فلسفي او سیاسي تجدد طرفدار دی او اکثر دخرافاتو سره دمبارزې په حال کښې لیدل کیږي . فلسفي استدلال ده د شعریت مرحلې ته رسولی او هغه یې دسیاسي درد سره ګډ کړی چه «یوتپوس» یې مثال دی دده د «غیرت چغه» په ټولو اشعارو کښې یو انقلابي شور او دموجوده اجتماعي مؤسسو سره یوه نه آشنا کیدونکي جګړه روانه ده .

داجمل واقعیت دغني خان ترهغه ښکلي او لړزوونکي دی خو دغني واقعیت داجمل ترهغې ډیرواقعي دی. اجمل دمبارزې په حال کښې دی خو غني خان داسې ښکاري لکه چه جنګ یې ګټلی وي بایي بایللی وي او اوس دخیر په غونډۍ ناست وي او په ډیره بې پروا لهجه مسخرې ور باندې کوي. دغني خان «ښاري» که ولولئ نو به متوجه شئ چه دا به یوه داسې شاعر کښلی وي چه دار دوویونکو او دکاندارانو لهجو ته سخت متوجه و او شعر ته ئې ډیر وخت لاره حال دا چه داجمل په اشعارو کښې مونږ ته دداسې مجاهد څیره ښکار یږي چه یو مهم پیغام په بیړه مونږ ته را اوروي او ډیر بې زړه کیږي چه موږ وپاروي په لنډ ډول ویلی شو چه داجمل فکر دتمرکز پرخوا او دغني فکر دآزادته الوتلو طرفدار . دانشو ویلی چه غني مبارزته دی ځکه «شپږ ځمري» یې په جیلخانه کښې ویلی دی او دهغې په لوستلو سړی پوهیږي چه دی دژوند دسختو سره اشنا دی او په سړه سینه یې زغمي ددې ډلي دریم نماینده سلیمان لایق دی چه په دی وروستیو وختو کښې یې د ((چونغر)) اثر خپور شوی دې لایق په افغانستان کښې پاس یاد شو ودوو سیاسي او علمي

جریان محصول دی یا په بل عبارت داجمل اوغنی افغانستانی انډول دی هغه قوا چه په پښتونستان کښې دا جمل اوغنی شعر متا ثروی په افغا نستان کښې د لایق شعر ته رنګ ور کوی داجمل اولایق د شعرونو په مینځ کښې یو فرق دادی چه اجمل یوازې پښتانه یاد وی او دخاصی پښتونخوا سره سر و کار لری اولایق له بله پلوه داسې یوې ټولنی ته شعر وایی چه په هغو کښې پاړسی وان، هزاره اوزبك اوتر کمن پراته دی یعنی دلایق مخاطب داسی ټولنه ده چه په هغې کښې له یوه نه زیات کلتوری واحدونه ژوند کوی. سالنګ، چونغر، بدخشان اودسې نور شعرونه دلایق کلام ته یوو سیع شکل ور کوی او داسې بریښی چه لایق ترا جمله د ډېر و سره ږغیږی. دلا یق د شعر ددې خاصی عاملونه دوه دی: یو یی دده ملی شعر دی چه د نورو ځوانانو د تماس په اثر یی غه بڼه موندلی ده دافغانستان د ټولو کلتوری واحدونو یو والی داوسنی افغا نستان د ځوانانو او منورینو شعار دی اولایق یی یو نماینده دی. بل عامل چه دده نظر ته یی وسعت ور کړ دادی چه پخپله لایق په قطغن کښې زیږیدلی چه هلته دافغانستان د هر ګوټ او هر کلچر نمایندګان میشته دی. په قطغن کښې پښتون چموشې (د څرمنی یو راز پڼې) په پښو کوی او چپن اغوندی او بز کشی کوی د بلخ اوزبکان پښتو وایی او اتڼ اچوی په بل عبارت کولتورونه سره ګډ شوی او په بینظیره تو ګه یی یو بل سره ائتلاف کړی دی لایق د دغسې یو محیط مولود دی او له همدې امله نژادی اولسانی تو پیر ده ته هیڅ معضله نه ده دده مخاطب ټول افغانستان دی او په پښتو ژبه د دوی ارمانونه او احساسات ښکاره کوی. داسی نه چه د یوه پښتون په حیث دی دافغانستان په نورو قومونو زړه سوی ولری بلکه ده ته هر افغان که پښتون وی که نه وی یوه اندازه ارزښت لری دده شعری ارزښت په نژادی او ژبنی تو پیر نه دی بنا. دده شعر د زیاتې پیژندګلوی د پاره دې مراجعه وشی د ((چونغر)) کتاب ته چه د هغې مقدمه مالیکلی او دده په سبك ږغیدلی یم.

ددغه توضیح سره زما د تحلیل سلسله پای ته رسیږی او اوس به په څو کرښو کښې ددغو درواوږد ومقالو لنډیز وړاندې کړم:

ادبیات د ټولنی د اجتماعی تغییرا تو او شرایطو هینداره ده د اجتماعی شرایطو د بدلون سره د ادب شکل او محتویات هم بدلیږی .

د افغانستان د شرایطو د بدلون سره د دې هیواد په ادبیاتو کښې هم موازی بدلون راغی. د افغانستان پښتو ادبیات ورو ورو د نړۍ ادبیاتو ته ور نژدې شو . د اوسنی پښتو شعر د ریالیزم او واقعیت بینی خوا ته هڅه کوی . پښتو شعر په دې پیل کوی چه په جهانی ادب کښې ځانته یو مناسب ځای پیدا کړی . د پښتو شعر آینده د ځلمیانو په لاس کښې ده او همدا ځلمیان دی چه د افغانستان اجتماعی او سیاسی آینده یې هم په لاس کښې ده . پیش بینی داده چه پښتو شعر و نه به وروسته له دې په نورو ژوند یو ژبو ترجمه شی او دا هم نه د دې د پاره چه د افغانستان ادبی سیر ترې څرګند شی بلکه نړۍ وال به یې د خپلو هنری ذوقو د خړو بولو د پاره لولی . د پښتو شعر آینده روڼه ده او د دې ملك شاعران باید د خپلې ژبې د وسلې سره خپل جهانی سر نوشت ته ورګډ شی .

په راتلونکې ګڼه کښې به یواځې د ښاغلو اجمل خټك ـ غنی او لایق د اشعارو نمونې وړاندې کوم .

واسعی

دپښتو ادبی او شعری قاموس

-۲-

دقاموس لغوی مواد:

دکابل دمجلې په (۹) ګڼه کښې موږ په پښتو کښې دادبی او شعری قاموس پر لزوم خبرې وکړې او دامو څرګنده کړه چه د اسې نوامیس په قورو ژبو کښې هم څه نه څه موجوددی - نو په پښتو ژبه کښې چه دژوند او انکشاف اوعصری تحول په دروازه کښې ولاړه ده هم باید دغسې قاموس موجود وي .

په دې ګڼه کښې غواړم داخبره وڅیړم چه ددې قاموس لغوی مواد باید څنګه او د څه نوعې څخه وی ؟ ایا هر څه کلمات چه اصطلاحاً لغت بلل کیږی او یوه ترجمه او معنی ولری او په یوه بیت کښی راغلی وی په دې قاموس کښې رااخستل کیږی ؟ که داسې وی نو دې قاموس ته شعری اوادبی قاموس ویل هیڅ معنی نلری، او دهغه اودژبې دیوه عمومی قاموس توپیر په څه وی؟ دمثال په ډول که څوك دخوشحال خان ددې بیت چه :

دټټوونه همه ټټو ګی زیـــږی

که ایغرئې دعرب یا دعراق

ټوله لغات په دې نامه چه شعر ځنې جوړ شوی او دخوشحال خان غوندې سړی په کلام کښې راغلی دی په قاموس کښې ونیسی نو به نه دالغات ټوله ادبی او

شعری وی اونه به قاموس ته دادبی اوشعری قاموس حق او نوم ور کړل شی .
هو ! دادبی قاموس دتألیف په لار کښې دغه سنګړه پرته ده او دا یوه د اسې
عقده د. چه څو داحل نشی دې کارته لاس نه ورته کیږی او که سره له دې
بیاهم څوك دې کار ته وروړاندې سی کار به ئې غیر مؤفق او نتیجه ؤ حاصل
به ئې نامطلوب او بیخونده وی نو اوس باید څه وشی او کوم علاج ورته سنجول
شی ؟ زما په خیال دې مشکلې علاج دلغاتو په انتخاب او دچنلو دلارې نه کیږی
ـ ولې چې او انتخاب به په کوم اساس او دڅه شی دروبه کیږی په مثال کښې
به بیرته دخوشحال خان هغه بیت ته ولاړشو چه دیوې خوا ټټوا و د بلې خوا
زیږی او بیا ایغر پکښې وینو او بالاخره عرب او عراق پکښې راغلی دی ښه
نو اوس به په دغو پنځو لغتو کښې چه په لومړی نظر ټوله شعری لغات دی
ټوله به اخلو او که به څوك ایله کو و د ټولو اخستل خوځکه معنی نلری
چه په عمومی قاموسونو کښې هم دالغات په عمومی حیث او دژبې د لغاتو په
په نامه راغلی دی او که چې پکښې کو و هغه به د څه شی د رویه
اوپه کوم اساس به وی ؟

دچې اساس به صحیحه رأیه او سالم ذوق وی ـ او کوم سړی چه دد ې دوو
مزایا و و څښتن وی د هغه انتخاب باید و منل سی او د چې قدر او احترام
به ئې کیږی . سر بیره پردې ددې د پاره چه د شعری او ادبی قاموس تألیف
په علمی متودونو ملبس اوپه عصری فورم موصوف وی بعضی خطوط باید وضع ـ
او دلغاتو د انتخاب دپاره ټاکلی ابواب معرفی سی په دې صورت چه : لومړی
باید هغه لغات ضبط شی چه هغه حقیقتاً شعری او ادبی وی یعنی غیر له شعر
او دیوان څخه بل چیرې نه مونده کیږی او په محاوره کښې نه وی مستعمل

لکه د (هړاند) کلمه . دې لغت ته چه موږ د یوه پښتو لغت په سترګه و ګورو قطعاً نو ی او ادبي لغت د ی او لفظاً او معناً دواړه په محاوره ا و خبر و کښې ناپیژند وی دی . دالغت پښتو قاموس د سرګردان او پریشان په معنی راوړی دی ، مګر دخوشحال خان په کلام کښې د پښتو قاموس ترجمه نه ورسره لګیږی او چسپ نه ور سره خوری ـ خوشحال خان دا لغت داسې را وړی :

په نیتو نو په صو تونو په لا سونو
خلقی دی سره یو تر بل هړا ندې

بل ځا ی وا یی :

چرګان بی وخته بانګونه کاندې
بیا څه بلا د ی با ندې هړ ا ندې
زه ئې بی وخته له یاره بـیل کړم
چاړه ئې سازه شه په ستونی باندې

نو اوس سړی باید د پښتو قاموس د ترجمې څخه سترګې پټې کړی او دلته د دې لغت ترجمه په (مسلط) سره و کی یا لکه بل ځای چه خوشحال خان وائی :

په کوه قاف که رهبر د وړاندې
که درومې نه به وی سختی درباندې
که بی رهبره په سم میدان درومې
څو څو بلا به شی په تا هړا ندې

په دې ځای کښې لغت دمصروف ، ګرفتار ، اخته ، معنی ور کوی .

په دې لاندې څلوریځه کښې بیادالغت بله معنی و ر کوی ا و خپلې پخوانی ترجمې هغسې لکه په دمخه ووڅلوریځو کښې چه ئی چسپ ورسره خوړ دلته نه ورسره لګیږی خو شحال خان وائی :

په غم د ي سوی لغو ړ ن ز ه یم صبا بیګا د ي په ا و ښو او به یم
دعشق سپاره دي په ماهر اند کړه په رنګ زیبنبلی سوی په زړه یم

مقصد داچه په شعری او ادبی قاموس کښې تر هر څه لومړی د غه قسم لغا ت چه یوازې په شعراوادب کښې ژوندی اوپه محاوره کښې نابابه یاهره وی راوړل کیږی او حقیقت همدادی چه دانو عه لغات چه هرڅو نه ډیر وموندہ شی او په زیات شمیر د سړی لاس ته ورشی هغو نه به دا دبی قا مو س ا همیت ز یا ت شی ا و لغو ی بنسټ به یې قو ت و مو می .

په دوهمه مرحله کښې به هغو لغاتو ته ځای ور کو ل کیږی چه په ا د ب اوشعر کښې راغلی وی مگر دپښتو په هره لهجه کښې نه وی مروج اوعام پښتانه یې نه پیژنی ـ دالغت لکه (ایغر) او دده نورامثال د (ایغر) کلمه دخوشحال خان په اشعارو کښې مادوه ځایه لیدلی ده لکه :

شیکره چوړی نیسی زانی شنغر نیسی شرمښ بهان وهی زمری ایغر نیسی
و لو ی میلمه ته سړی سا غر نیسې مفلس میلمه ته ساغر لا غر نیسی

بل ځا ی :

د ټټو و نه همه وا ړه ټټو ز یږ ی که ایغر ئې دعرا ق که د عر ب

دالغت یوازی خوشحال خان راوړی دی اودخوشحال کلیات دري ځایه طبع سوی دی چه هغه د کند هار ـ پیښور او د هوتی چاپونه دی که څه هم د کند ها ر اوپیښور چاپونه فی الجمله تعلیقات اوپه لمن کښې بعضاً د نا اشنا لغا تو تفسیر هم لر ی خوددې لغت ترجمې او تفسیر ته دواړه نسخی وچې ولاړې د ی صرف دپیښور دنسخی په فوټ نوټ کښې لیکلې دی چه دهوتی په چاپ کښې دایغر برځای (الغیر) راغلی دی اوتر ایغر ئی (الغیر) صحیح بللی د ی مگر خبره

خوداده چه (الغیر) په دغه بیت کښې هیڅ معنی نه ورکوی دا ځکه چه پخپله (ایغر) په محاوره کښې یوژوندی او مروج لغت اوهم په بیت کښې په سل کښې سل جوړدی چه دادی اوس به یی ښاغلو لوستونکوته مفصله تشریح وړاندې سی :

دالغت د کندهار په محاوره کښې اوس فی الحال ژوندی دی اوڅوك چه په هغه محاوره کښی وارد اودمحیط سره آشنا اودوګړو سره ګډون ولری ښه ئې پیژنی ددې لغت قورم دوې برخی دی: (ای) دالف و(ئی) په زور او (غر) په زوره کی سره لکه (زر) دهزار په معنی اوپه محاوره کښې دممتاز قوی مشر، نازولی، هغه څوك چه ځان ته بوڅه وایی په معنی مستعمل دی په کندهار کښې واړه او ښځی دا کلمه په دی صورت مستعملوی او یووبل ته وائی «ته بیا چاراته ایغر کړی؟» یا «دا بیا ګوره چه ځان ئې ایغر کړی دی» یا «... تاایغر» په دې استعمالاتو کښې ددوی مقصد دایغر څخه فقط ممتاز، نازولی، دسرسړی اوداهمیت څښتن وی

مګر دخوشحال خان دشعر په اساس پورته معانی ددې لغت لازمی یانقلی اوثانوی معانی دی اودمنقول په نوګه دا مفاهیم ځنې اخیستل کیږی یعنی دلفظ اصله او موضوع له معنی هغه آس دی چه دنسل دپاره مادیانې ته ورکول کیږی چه په فارسی ئی (طرم) بولی ځکه چه دنسل دنیولو دپاره ممتاز او اصیل آس ساتل کیږی اوهغه هرومرو عربی یاعراقی آس وی نو خوشحال خان دایغر په اقسامو کښې عراقی اوعربی راوړی دی مګر محاوری دا کلمه دآس دمفهوم څخه تجرید کړه اوصرف په یوه جزء کښی یې مستعمله کړه اویوازی دنازولی یا ممتاز په معنی یې واخیسته.

په دریمه مرتبه کښې به هغه کلمات راغونډیږی چه په شعراو ادب کښې راغلی وی مګر دپښتو په محاوراتو اولهجاتو کښې ئې هیڅ یوه محاوره اولهجه نه پیژنی

اودپښتو پەمطبوعو قوامیسو کښې پەصحیحه معنی نەوی ضبط شوی لکه د(تومن) کلمەاوددې نورامثال دتومن لغت خوشحال خان پەدوو بیتونو کښې داسی راوړی:

پەدرست کلی کښې مې یاردی هغه کس چەپەدرست تومن اوڅاردی هغه کس

یا: چەپه درست تومن اوڅاردی نن هغه ده زما یاره

پښتو قاموس ددې کلمی پەتفسیر کښې وایی: «نام طایفهٔ است».

مګرزه دا کلمه یوه سو چه او خالصه پښتو کلمه بولم چه ریښه او ماخذئی (تومنه) ده تومنەپه پښتو کښې دمستو یاشلومبو هغه مقدار بولی چەد مستی کیدلو دپاره ئې شیدوته وراچوی هغه پښتانه چه (تومنه) پەپورته معنی پکښې مستعمله ده دا کلمه دذات اوضمیرؤ فطرت پەمعنی هم مستعملوی او وایی «دیلانی تومنه خرابه ده» یا «تومنه ئې د کار نه ده».

پەڅلرمه مرحله کښې به هغه کلمات ضبطیږی چەهغەفقط پخپله دشاعر او دیوان دڅښتن خلق اونحت وی یعنی کەڅه هم لغت پەظاهره دګرامری قوانینو پەاساس جوړشوی وی او نور مثالونه ئې پەژبه اومحاوره کښې موجودوی مګر پەسرسره پخپله دغه لغت پەمحاوره اوژبه کښې هیڅ درك او نښان نەولری اونه موجوده پښتو قاموسو نیولی وی. دهمد غونو عولغاتو څخه یوه کلمه (پړ نده) بلل کیږی چەخوشحال خان پەدې رباعی کښې راوړی ده:

دزمری غوندې ځان ژغوره مەسرزه شه سر غنده

زمری ځان پەوقار ژغوری سرژه تیښت نه پړنده

ددې کلمی معنی نەدخوشحال خان د کلیاتو پەتعلیقاتو کښې لیکل شوې ده او نەدپښتو پەموجوده قوامیسو کښې راغلی ده خوزما پەعقیده دالغت دخوشحال خان دتخلیقی لغاتو څخه دی چەتحقیق اوڅیړنه بەئې دقاموس دلغاتو پەترڅ کښې

پخپل وار اوموقع کیږی پهدې پسې ور وسته بههغه کلمات را وړل کېږ ی چه دځلرم ګروپ دلغاتو څخه مخالف نهدشاعر تخلیق وی‌اونه په ژبه کښی مستعمل وی خوصرف ریښه ولری اومثل ونظیرئې موجودوی دداسې لغاتو نمایندهٔ او مثال د(پیاندی) کلمه ده چهدخوشحال خان پهدې بیت کښی راغلی ده:

ته ګوره پهچیرته زهخوشحال په کوم ملکو نه

پاس پهزړه پرتې دی ستادتور اوربل پیاندې

دخوشحال‌خان د کلیات پهدواړو پیښوری او کندها ری طبع کښې ددې لغت په ترجمه کښې څه نهدی‌ویل‌شوی مګر دپښتو قاموس د(پیانده) ترجمه په(کلوله‌زلف) کړې ده چهبی اصله ښکاری اواصلی ترجمهٔ ئی ښائی دادبی قاموس پهپاڼو کښی وسی یالکهدچونی کلمه چهدخوشحال خان پهدې شعر کښې را غلی ده:

په کا ر د علم عا لما ن مو ښـی شیخان په کار د شیخی ځان چونی

داد واړه هیڅ دی ز ما په پو هه ګوره څوك ورشی په مخ مخ رو نی

دچونی کلمه دچونل دمصد ره څخه جوړه ده خوپه محاوره او پښتنو کښې ئې دغه بڼه او دغه معنی نهلیدل کیږی کهڅه هم‌پهپښتو قاموس کښې دچونل کلمه راغلې او پخپله مشهوره اومتعارفه معنی « بیختن ـ به جامه ـ چین دا دن » ترجمه سوې ده ـ مګرد بیت دمفهومه سره داترجمه تناسب نلری اوسپی ئی نه ورسره غاپی نوباید په کلمه کښې دبیت پهاساس تحقیق اوتتبع وسی اود ا سی ترجمه ورله وموندہ شی چهدبیت معنی په جوړه سی تردې ځایه‌خوموږ د قاموس دلغوی مواد و اومحتویاتو دخطوطو په ترسیم کښې خبرې‌وکړې اودهغه کلماتو حدود مو و ټاکل چهپه ادبی قاموس کښې بایدضبط اونیول سی مګر سر بیره پردی نورې خبرې هم شتهچه باید پروسی چهپه هغو کښې‌په د ې خبرو کښې‌یوه

داده چه په اشعار واو دواوینو کښې شعراؤد ضرب الامثالو اومشهورو مقولو او دهغو ترکیبو نواو جملا توڅخه کار اخیستی وی چه دهغو استخدام په کلام کښې دخوند اولطف څخه خالی نه وی اودشعراوادب په بازار کښې خپل خاص قیمت لری او دذوق دخاوند انواو دادب اوژبی دهنر مندانو په ادبی مجالسو کښې ځانته اهمیت ورکول کیږی .

دداسی معنوی محسناتو اولفظی بدایعو څخه ستر گې پټول او دپښتنوخبره سوی ځنی تیر پدل دیوی ژبې دادباواو کلتورسره ظلم کول بلکه سپکاوی ئې دی - ښاغلی لوستونکی دې فکر وکړی چه که څوك دادبی قاموس په تدوین کښې دداسی نکاتومراعات ونکړی اودهمد غه جهته مثلاد پیر محمد کاکړ په دې بیت کښې

ماله یاره سپینه خوله په خنداغوښته

دې له ناره دغوټی په دود و نغښته

سپینه خوله په خندا غوښتل په آرورنسی یاپه دې بیت کښې :

محبوبا پر بستر واو ښته له خو به

که هوسی وه دبهار پر گلو ر غښته

محبوبا پر بسترد خوبه اوښتل یاد هوسی د بهار پر گلا نو ر غښتل بی اهمیته وبولی یاپه دې بیت کښی :

سپین مړوند ددلر با که مې سر ویښت شی

سر به هسك نکم دوصل له با لښته

ددلر باپر سپین مړوند سرایښوول اوهغه ته دوصل بالښت ویل یا د عبد الحمید ماشو خیل په کلام کښې :

په خوله ورداووظیفه په زړه مین شوم

دنغری په غاړه وخوړم ز مری

دنغری پرغاړه ځان په زمری خوړل ، یا په دې لنډی کښې :

سپوږمی پرنیم د اسمان راغله

بی یاره خوب نسته که ماله نه راځینه

پرنیم اسمان دسپوږمی راتګ دبیخوابی اوشپی روڼولو څخه کنایه کول یا :

سپوږمی دخدای روې می دروړی

ددوومینوتر میانځ مه وړه مشلونه

یا په دې کا کړی غاړه کښې چه :

نیمه شپه ده سپی غپږی

کون و وراځه ته ښوریږی

په نیمه شپه کښی دمین ورتګ خپلی مینی ته وراځی ته د کون دښورید لوسره تشبیه ور کول دا اوله دې قسمه په سلونو نور امثله چه دپښتنو شعرا ؤد یوانونه په ډک دی داد بی او شعری قاموس په مواد و کښې باید واخیستل شی اودقاموس ښکلی اوخوند وره بلکه ابتکاری او دجمال اوښکلا څخه ډکه بر خه تشکیل کړی دلته نو لوستونکی شاید دافکرو کړی چه داشیان خودلغاتو په شمیر کښې نه راځی اودبیان او بدیع مربوط دی هو! دبیان اوبدیع مربوط خودی مګر ددې دپاره چه دلوستونکی نظراو مطالعی ته ورنژدی شی داښه ده چه داد بی اوشعری قاموس په مواد و کښی هم و اخیستل شی اوتر قیامته د کلاسیکی اودرسی چو کاټ په قید کښی نه وی پاته چه حتماً به دفارمولا ګانو اوعلمی لاروچاروتر حاصلولو وروسته یو پښتون یاغیر پښتون سړی په خبریږی اوڅو پردغه مخصوصه لارولاړ نشی یو معمولی لوستونکی به ئی دخوند اوخوږوالی څخه محروم اوناخبره وی .

اوسنی عصر خود ژوندیه ټولو چارو کښی بدلون راوستلی دی او تقریباً د بعضو

افراطی زلمیانو پهعقیده ژوند تن روح دتحول اوتجدد څخه عبارت دی - په کوم شی کښی چه دتحول اوتجدد رنګ نهوی څوك ئی پهموجودیت اعتراف نکوی اومو جود ئی نهبولی نوادب اوثقافت به چه دژوند ترجمان اوښکلی هینداره ده ولی به د اوسنی تحول څخه محروم اوپریخوانی (۱۰۰۰) کلن حالت به باته وی. اوسنی لیکونکی دنوی عصری ادب پهقافله پسی په دونه شوق اوذوق مخ په وړاندی روان دی چه زاړه ادب اوپخوانی ثقافت تهترشاګوری لا هم نه علاوه پردی داوسنی تحصیل متودونهاوښتی دی اودښوونی اوروزنی لاری چاری پهسا حرانه ډول لنډی شوی دی یوه بیسواده ټولنه پهخو کلو نو کښی ټوله لیکو نکی او لوستو نکی کیږی د کورسونواوسمینارونواود کنفرانسونوعصری سیستمونه دعمومی ثقافت اومخصوصاً دمعارف دشاګردانوسرهمحیر العقول علمی کومکونه کوی د کال اود وو کالود تحصیل لارپهڅلورپنځو میاشتو ورلنډه کړی.

نو که موږ دشعری اوادبی قاموس په ضمن کښی بدیعی مسایل د لغاتو په نهه تفسیر اوتحلیل کړواودخپلو پښتنو وروڼو سرهمرسته و کړودپوهنی لارئی ور لنډه او وقت ئی ورو سپموو دا به کمهبده خبرهنه وی.

وهچه خوش باشد که سردلبران گفته آید درحدیث دیگران

او که په یوه ټك دوی نخښی وویشتای سوڅه ګناهبه نهوی سوی : «چهخوش بود که برآید به یك کرشمه دو کار» موږ ته معلو مهده چه دفاکولتو محصلینوته داد بیمتونولوسنل په پروګرام کښی داخل دی - دهمد غه جهته ادبی اوشعری قاموس ترهرچاددوی دپاره ډیرپه کاردی. نو که دوی ته دلغاتودتفسیر او ترجمی په ضمن کښی دپښتو شعراوادب اوپښتنو ادباوو (معاصر ینو او قدما وو) ادبی شاهکارونه اوبدیعی وفنی مهار تونه هم اوڅاراولچ کړه سی آیا د فاکولتی زلمیانود تحصیل دنفیس وقت په ګټه بهنسی تمام اودابهددوی دژونده سره یودلویه اونه هیر یدونکی مرسته نه وی ، اونوی عمر به نهوی وربخښل سوی ؟ (نور بیا)

لیکونکی: قیام الدین خادم

پښتو تصفیه غواړی

شپږمه مقاله

دتیرو مقالو په تعقیب ـ په دې مقاله کښې غواړو چه دیوې غټې رواج شوی غلطی سمون و کړو داغټه غلطی راجع ده ـ دپښتو اضافی ترکیب ته.

دا ضافی ترکیب غلط رواج شوی ترکیبو نه دادی:

(۱)ـ دامین سرلوحه لیکونکی.

(۲)ـ دګل محمد سلمانی.

(۳)ـ دمرکزی قوی.

(٤)ـ دمرکزی سیلو.

(٥)ـ دبانك ملی افغان ښاری څانګه.

پورته مثالونه مونږ دنمونې په صورت ذکر کړل. که نه نود غسې نور هم ډېر مثالونه شته چه رواج شوی دی، اوسم نه دی لکه (د شهر ی تلیفون). عنوانونه اوتختې داسې څیزونه نه دی لکه مکتوب یااستعلام چه که کوم ټکی پکښې غلط وی ـ نووی دې څه باك لری. مکتوب اوخط هم که شخصی وی ـ خووی دې ـ مګر که رسمی وی ـ نود الفاظو لاندې خومعنی ګانې دی ـ په لیکلو کښې خولفظ او لیك سند ګرځی. په قانون کښې جهل عذر نه حسابیږی نو که:

دچامد عایوشی وی اوولیکی بل څه، نوڅنګه ګوندې ډیرمشکلات به ترې پیدانه شی؟ ترټولومهمه اولویه خبره داده چه اوسنی افغانستان پخوانی افغانستان نه دی. او س خلك زمونږ هرعمل اوفعل ته په دقت ګوری نو که زموږلوی لوی عناوین لوی لوی ادبی اغلاط ولری نوخلك به څه وائی. د دغوخبرو دا صلاح او سمون لاره ډیره لنډه اوبی تکلیفه ده. هرڅوك چه کومه لوحه یا عنوان جوړ وی په تلیفون کښې یادا ستعلام په ذریعه له پښتو ټولنې مشوره اخیستی اوخپل کار سمولای شی. او که څوك دغومره تکلیف نه شی ګاللای ـ نووګوری چه څومره لوی عیب پاتې کیږی. او ذمه واری یې پښتو ټولنې ته نه ده راجع. ددغې غلطۍ بنیاد څه شی دی؟ بنیاد اوسټه ئې دلته ده چه اکثره خلك دا ګمان کوی چه دفارسی اضافی ترکیب ته په سر کښی (د) ورواچول شی نو پښتو کیږی اوداګمان ځکه کوی چه په فارسی کښې اضافت په کسره سره اظهار کیږی ـ او کوم خاص حرف نه لری. مګر په پښتو کښې (د) داضافت حرف دې. نودغه کسان چه په پښتو کښې سم بلدندی اوپه پوهه یاناپوهی له صلاحیتدارو خلکو پوښتنه کول هم مناسب نه ګڼی نود فارسی دهراضافی ترکیب په سر کښې (د) ورزیاتوی. دفارسی هراضافی ترکیب په پښتو کښی د(د) په زیاتولو ولی نه پښتو کیږی؟ ځکه چه اضافت په پښتو کښی دوه معناوی افاده کوی او په فارسی کښی اضافت ددری معناؤ دافادی دپاره راځی. تفصیل یی داسی دی چه (الف): اضافت په اصل کښی دتملك داظهار تعبیر دی لکه لاندی مثالونه:

۱ـ دا حمد کتاب (کتاب احمد)

۲ـ دا سلم خولی (کلاه اسلم)

۳ـ زما قلم (قلم من)

٤ ـ ستا مشوانی (دوات تو)

داپو رته څلورواړه دتملکی اضافت مثالونه دی چه په فارسی کښې په (کسره) سره اظهار شوی دی. مګر په پښتو کښې ئی دوه مثالونه په (د) اظهار شوی دی او دوه نور ئی په اضافی ضمیرونو څرګند شوی دی. او داځکه چه په فارسی کښې اضافی ضمیرونه نشته نو که څوك پښتو دفارسی سره برابرول غواړی - او په یو ګز ئی ګز وی - او (ستا مشواڼی) پرځای (دستامشواڼی) او (زماقلم) پرځای (دزماقلم) ووائی او ولیکی نو دپښتو په ادب کښې دغسی کار دپاره ځای نشته اوله معیاره د باندې کاردی

(ب) ملا بستی اضافت دی. دا هغه اضافت دی چه د مضاف او مضاف الیه په منځ کښې یو قسم نسبت او ربط وی چه دمضاف او مضاف الیه په نامه یاد یږی لکه:

(۱)- داتمان سره بل څوك هم ؤ (بهمراه اتمان دیګر شخص هم بود)

(۲)- دخالی په ورځ به ـرشم (روز شنبه نزدت خواهم آمد)

(۳)- دخټك سره دې څه وکړل؟ (بهمراه خټك چه کردی؟)

(٤)- د کورنه څه وخت راغلې؟ (از خانه چه وقت آمدی؟)

(٥)- ته دچا پلو ئې؟ (تو طرفدار کیستی؟)

یادداشت: (په پنځم مثال کښې دپلو پرځای (پلوی) هم ویل کیږی خو دا زموږ مرادته دی.)

دغه پورته پنځه مثالونه په پښتو کښې په (د) سره ویل کیږی خو په مقابل کښې ئې فارسی په ټولو مثالونو کښې اضافی تعبیر نه لری او کسره هم خپل ځای پریږدی. مدعا دومره ده چه دپښتو او فارسی اضافی ترکیبونه کټ مټ یو دبل تعبیر نشی کیدای.

(ج) دلته یو دریم قسم اضافت هم شته چه زموږ دهدف ټکی همدغه دی. دغه

اضافت ته (توصیفی اضافت) وائی توصیفی اضافت په فارسی کښې شته او په پښتو کښې بیخی وجود نه لری. بلکه په پښتو کښې (صفت او موصوف) جلا ډول ترکیب لری. او د فارسی په شان (په اضافی ترکیب) نه ادا کیږی لکه لاندې مثالونه:

(۱)- سور کتاب (کتاب سرخ)

(۲)- لوړ سړی (آدم بلند)

(۳)- ملی ژبه (زبان ملی)

(٤)- عسکری هستو ګنځی (چهاونی عسکری)

(٥)- ملی قوی (قوای ملی)

پورته پنځه مثالونه په پښتو او فارسی کښې دیوې معنی افاده کوی خو دګریمر په لحاظ ئې لارې چورې بیلې او جلا دی. همدغه یوه مدعا ده خو په پښتو کښې د صفت او موصوف په ترکیب او په فارسی کښې د مضاف او مضاف الیه په عبارت اداء کیږی نو دا څه چل دی؟ چل دا دی چه پښتو او فارسی بیلې بیلې ژبې دی او بیل بیل ګریمر لری دا یوه کلکه او ټینګه خبره ده چه د ژبو پیژند ګلوی او د هغو مقایسه د لغت له پلوه دومره قیمت او اهمیت نه لری لکه د ګریمر، اشتقاق او ترکیب له خوا. نو د فارسی هر اضافی ترکیب تش د پښتو د اضافی حرف (د) په زیاتولو، یوازې دا نه چه پښتو کیږی نه بلکه غلطیږی هم. پښتو خورا لویه ژبه ده خورا ممتاز او ځانته ګریمر لری. او س پښتو د تخصص او علم حدته رارسیدلی ده ښائی چه په د. نه سترګه ورته و کتل شی نه په سرسری نظر.

نو د اولو پنځو مثالونو سمون داسې دی:

۱- امین- سرلو حه لیکونکی (د دال په حذف)

۲- ګل محمد سلمانی (د دال په حذف)

۳ـ مرکزی قوی (ددال په حذف)

٤ـ مرکزی سیلو (ددال په حذف)

٥ـ دافغان ملی بانك ښاری څانګه (دترکیب په تبدیلی)

په اول مثال کښی (د) ولې نه راځی ؟ ځکه (امین) دبوسړی نوم دی او هغه سر لوحه لیکونکی دی داسړی په خپلك تخته همدومره اعلان کول غواړی چه دلته دی (امین ـ سرلوحه لیکونکی) دائې مدعانه ده چه (دامین سرلوحه لیکونکی کوم بل څیز) هو که دلته دهټی یاد کان کلمه وای نو بیا عبارت داسی به کارو (دامین سر لوحه لیکونکی هټی) خوالبته د (امین) مدعادانه ده چه لوحه اوږده شی ـ نو فقط همدومره تذکر کوی چه (امین ـ سرلوحه لیکونکی) نو دلته داضافت او داضافت ددال هیڅ ګنجایش نشته (۲) (ګل محمد سلمانی) هم د (امین سرلوحه لیکونکی) په شان تشریح او قیاس کیدی شی او کټ مټ دغسې دی لکه (سلطان محمد پغمانی) چه وروستنی صفت د مخکښې اسم توضیح او تشخیص کوی هو! دومره ده چه (سلمانی او پغمانی) په دغسی ځایو کښی دنون په زیر نه ویل کیږی بلکه په زورئې ویل په کاردی ،

له مرکزی قوی او مرکزی سیلو څخه که مراد (قوای مرکز (او) سیلوی مرکز) وی ـ تو تعبیر ئی په (مرکزی) سره سم نه دی ځکه چه (مرکز ـ مرکزی) دپښتو په ګریمر کښی بیلې بیلې کلمې دی .

(مرکز) عام اسم دی او (مرکزی) منسوب صفت دی ـ داخوښکاره ده چه (اسم) او (صفت) دپښتو په ګریمر کښی دوه بیل بیل قسمونه دی نو (قوای مرکز او سیلوی مرکز) په دوه ډوله پښتو کیدی شی لومړی دا چه په کلمه کښی تغییر ونکړو ـ تش ترکیب واړوو ـ نو پښتو به ئې داسې شی :

۱ ـ د مرکز قواء

۲ ـ د مرکز سیلو .

په دغو دواړو صورتونو کښې ترکیب اړول او (د) راوړل په کار دی ځکه په دې صورت کښې چه کلمه وانوړی (مرکزاوقواء) او (مرکز اوسیلو) دواړه اسمونه کیږی او په پښتو کښې ئی په اضافت سره تعبیر سم دی ـ نو هر کله چه په پښتو کښې مضاف الیه مخکښې اومضاف وروسته راځی ـ او بالعکس په فارسی کښې مضاف الیه وروسته اومضاف مخکښې کیږی ـ نو دفارسی اضافی ترکیب یو خو وړاندې وروسته کیږی او بل داچه عموماً ددواړو نه مخکښې (د) راځی ـ نو ځکه (قوای مرکزاوسیلوی مرکز) (دمرکز قواء اودمرکز سیلو) ګرځی .

او که په کلمه کښې تغییر وکړو او د (مرکز نه مرکزی) جوړ کړو ـ نو په پښتو کښې ئې په اضافت سره تعبیرنشی کیدای ـ نو دلته (د) هم چه د اضافت علامه ده نه زیا تیږی نو حاصل دادی چه (د مرکزی قوی) او (دمرکزی سیلو) سم نه دی نو یا (دمرکزقوا) او (دمرکز سیلو) او یا (مرکزی قواء) او (مرکزی سیلو) لیکل اوویل په کار دی .

راغلو (٥) لمبرته : ښاری څانګه ـ پښتو ترکیب اوصفت اومو صوف دی . (بانك ملی افغان) خالص فارسی ترکیب دی داد واړه په یوه دال سره نشی یوځای کیدای . که څوك غواړی چه ترکیب پښتو کړی ـ نو پښتو ئې داسی ده ؛ (دافغان ملی بانك ښاری څانګه) ـ (بانك) یو اسم دی (ملی) ئی صفت دی نو (ملی بانك) شو اوس نو که دا بانك (دافغان) وی نو (د افغان ملی بانك) شو . نو کوم وخت چه (ښاری څانګه) ورسره یوځای کیږی ـ نو (دافغان ملی بانك ښاری څانګه (یا) دافغان دملی بانك ښاری څانګه) لیکل په کار دی .

هو ـ دلته یوه خبره شته . ځینی و یلی شی چه (بانك ملی افغان) علم دی اول خوداخبره سمه نه ده . ځکه ټول نو مونه اوعناوین رسماً په پښتو او و ښتی دی . او که ومنو چه علم دی . نوداعلم داسی نه دی لکه (سید عمراو گل محمد) چه نه اړول کیږی . ټول تر کیبی نو مونه چه امتزا جی حیث ئې نه وی پیدا کړی په پښتو کښی اوړی ـ اوټوټی ټوټې کیږی . مثلا (دمرغلرو امیل) د یو کتاب نوم دې . خو کوم وخت چه په تر کیب کښی راشی نوپښتانه وائی:

« دخادم دمرغلر وله امیل څخه می شل نظمونه غوره کړل» البته که فرض کړو چه په پورته تر کیب کښی داسمه وی چه «د خادم . دمرغلروامـیل څخه می»..... نو بیا دلته ډیر داسی نومو نه شته چه ټوټی ټوټې کول ئې ضـروری کـ اروی لکه زه ډیر کلونه د کابل په پو هنتون کښی استاذوم «.ا وداسې نوردغسې نومونه که گډوډ نشی دپښتو فصاحت ته تاوان رسیږی.

لنډیز:

الف ـ دپښتو اوفارسی اضافت یوه لاره نه تعقیبوی.

ب ـ دپښتودصفت موصوف تر کیب په فارسی کښې په اضافت سره راځی .

ج ـ په پښتو کښې مضاف الیه مقدم اوپه فارسی کښې بالعکس مضا ف مخکښې کیږی.

د ـ په پښتو کښې داضافت حرف شته په فارسی کښی نشته

اوس دامسئله په همدې ځای پریږدو . بل واربه بله وڅیړو.

د پښتو یوه قلمی نسخه

څه موده دمخه پروفیسر میکنزی دلندن پوهنتون دشرقی اوا فریقا یی مطالعاتو دڅانګی استاذ پښتوټولنې ته دعلمی همکاری له مخې یوه عکاسی شوی قلمی نسخه اهداء کړه. پخواتر دی چه مونږ ددغې قلمی نسخی پرماهیت اوڅر نګوالی خبرې وکړو - دښاغلی ډاکټر میکنزی له مرستې څخه ډیر تشکر کوو. اوهیله لرو چه په راتلونکی کښی به ددغسی نومیالیو پوهانو په همکاری دځینو نور و قلمی نسخو په باب معلومات راغونډشی اودپښتو دادبیاتو تاریخ لمن به پراختیاومومی.

The John Rylands Library
Manchester,3

نوموړی نسخه دمانچسټر دجان ریلینډز په کتابخانه کښی خوندی شوی ده اودعکاسی شوی نسخې له مخې یې اصلی توم نه څرګندیږی.

ددې کتاب خصوصیات.

۱ـ د کتاب په اخر کښی له دې جملې څخه چه «بیچاره ابراهیم پښتو کړ» معلومیږی چه دا کتاب دابراهیم نومی په واسطه پښتو شوی دی. او کاتب یی ملاصفی شاه نومیږی د کتاب په وروستی مخ کښی «کاتب الحروف ملاسفی شاه» کښل شوی دی. اوپه نومړی صفحه کښې له دې عبارت څخه «بتاریخ دهم ربیع الاول سنه ۱۲۶۲ هجری.» داسې ښکاری چه موجوده نسخه به د (۱۲۶۲) په حدودو کښی استنساخ شوی وی.

که څه هم په قطعی ډول دانشوویلای چه دغه کتاب به ددیکته په توګه لیکل شوی وی که داستنساخ په ډول مګر داستنساخ صورت یې دځینو دلایلو پربنا صحیح ښکاری

اومړی داچه په پښتو کښی کتابونه د د یکته په ډول ډیر کم لیکل کیږی.
دوهمه داچه کتاب په مسجع نثر ترجمه شوی دی او داخبره له احتمال نه لری ښکاری
چه مترجم دې فی البدیهه پښتو کړی او کاتب ته دې یی دیکته کړی وی دریمه داچه
پخپله کاتب (ملاصفی شاه) دلیکوالی په فن کښی دومره وارد نه دی چه مترجم دې
هغه ته مراجعه و کړی وی. دا کتاب ټول (۶۰) مخه دی.

۲ـ د کتاب موضوع: په دې کتاب کښی د حضرت علی جنګونه له
زقوم پادشاه سره بیان شوی دی نو ښایی چه د کتاب نوم به «جنګ نامه حضرت علی»
یا کتاب زقوم بادشاه او یا ددې په شان کوم بل نوم وی.

قصه ئی داسی ډول شروع کیږی: یوه ورځ د خدای رسول د مدینی په جماعت کښی ناست و.
جبرائیل (ع) د حق له لوری راغی او ورته ویې ویل چه د عراق فتح په ښار کښې
د کفارو یوه لویه کلا ده چه په لس زرو منقشو برجونو ښایسته شوې ده د پادشاه نوم
زقوم دی چه اتلس لکه درې دیرش زره لښکر، نه زره مست خونیان هاتیان، څلور میړنی
پهلوانان او څلور غښتلی زامن لری. که ته د غزا په نیت ملا وتړې خدای به فتح
او کامیابی در کړی هغه وچه د اسلام لښکر د نوموړی کلا د نیولو په قصد روان شو.
د اسلامی لښکر شمیر درې دیرش زور تنو ته رسیده په داسې حال کښې چه د کفارو
لښکر اتلس لکه او درې دیرش زره تنه و. زقوم چه د مسلمانانو له رانګ څخه خبر شو
ـ د جنګ تیاری یې ونیوه. کله چه د زقوم لښکرې د جنګ د پاره راووتلې ـ پر انسانانو
، پیریانو او ماهیانو باندې ډیر هیبت پریووت او د حضرت لښکر ویې د مقابلې
د پاره تورې نیمکښو کړې.

د کفارو له خوا لومړی جنابیل پهلوان چه پنځوس منه خولی یې
په سرایښی وه او یوسل و دیرش منه ګرزیې په لاس کښې و. میدان ته راووت. د اسلام

دابنکر وله خوادسعید زوی عمر دده دمقابلې دپاره راغی. جنابیل دنیزې په یوه ګز ارعمر پر ځمکه راو غور ځاوه. جنابیل په لاقو پیل وکړ. هیچاد ده د مقابلې طاقت په ځان کښې نه لیده تر څوچه دخدای رسول حضرت علی ته مخ کړ او ورته ویې ویل چه دغه کافر لاس تړلی راوله. ورو سته له څه مقابلې څخه جنابیل مغلوب شو او داسلام دینې قبول کړ. جنابیل دا سلام له منلوور وسته د کافر وله مشهور پهلوانانو سره زور ازمویی او دوه مشهور پهلوانان (مهمل او بتن) دده له لاسه وژل کیږی زقوم امر کوی چه مسلمانان دې محاصره شی. پنځوس زره لښکر او شپږ زره هاتیان له حضرت علی نه چاپیر شول. دحضرت علی غزو نو ځمکې او اسمانو نه لړزول په یوه شیبه کښې یې دوینو سیندروان کړ او ټول لښکر یې تر تیغ تیر کړ. په دې جنګ کښې له اصحابو څخه دو لس زره تنه په شهادت ورسیدل او یو ویشت زره ژوندی پاتې شول دزقوم له لښکر و څخه شپږ لکه تنه کفار دوزخ ته روان شول.

لنډه یې داچه دزقوم مشهور پهلوانان او دده زامن وار په وار دجنګ ډګر ته راوزی. داسلام له خواجنابیل او حضرت علی مقابله کوی له کفارو څخه ځینی په اسلام مشرف کیږی او ځینی وژل کیږی. په پای کښې پخپله زقوم هم ونیول شو او داسلام دین یی ومانه.

دعراق سلطنت بیرته ور ګړ شو او داسلام لښکر فاتحانه مکې او مدینې ته راستون شو.

۳ ـ لیك دود: د کتاب له لیك دود څخه داسې ښکاری چه کاتب به یې په اصطلاح «نیمچه ملا» وی سره له دې ددغه لیك دود مطالعه هغه وخت ډیر ارزښت لری چه موږ دڅه زیات سل کاله پخوا لیك دود په باب څیړنه کوو او دپښتو دلیك دو د مرحلی راسپړو. داختصار په غرض دننني لیك دود تر څنګه دنومو ړی نسخې ځینی املایی شکلونه لیکم: زما، څما ـ یې، ی ـ ګ، ک ـ ته، ت ـ غوندی

د زقوم بادشاه د کتاب د متن یوه نمونه

غوند ـ نهو ، تو ـ پسي ، پس ـ په سر ، پسر ـ واړه ، واړ ـ زمونږ ، څموك تورونه ، تورت ـ عثمان ' عسمان ـ لکه،لك ـ غږ ، غږ ، غګ ـ مې ، م ـ شو،شي خلاص ، خلاس ـ زامن ، زهمن ـ نصیب ، نسیب ـ نړ ، ن راضی،رازی ـ تواضع توازع ـ بښ ، بش ـ اوداسي نور، په دي نسخه کښي د جنګ پر ځای کله د (جنګ ریز) او کله د (لړایی) کلمي استعمال شوي دي. کله کله د قافیي درعایت دپاره دځینو کلمو املاء بالکل بدلهشوی ده لکه چه هلاق دهلاك او تفاق دتپاك پر ځای استعمال شوی دی .

٤ ـ د کتاب سبك : دا کتاب دپیر روښان پر سبك لیکل شوی دی نثریی مسجع او کله کله موزون هم دی نو په دي لحاظورته نیم منظوم نثرویلی شو کتاب په دي الفاظو شروع کیږی « یوروخ د مندینې په جمعت کښی رسول ناستوه جبرائیل لحق راغی پرروی داره خدای سلام پر تاویل پر باربار » ټول کتاب په یوه قافیه نه دی لیکل شوی داپوره نه معلو میږی چه شاعر دقافیي له قحط سره مخامخ شوی دی او که دلوستو نکو دذوق اوروحیي درعایت دپاره یې قافیه بدله کړی ده.

کره کتنه : په تاریخی لحاظ هغه پیښي چه په دي کتاب کښی ضبط شوی دی له واقعیت سره اړخ نه لګوی داسی تاریخی شواهد زمونږ په لاس کښی نشته چه دهغوله مخې دي دعراق فتح دحضرت محمد ص په حضورشوی وی د کتاب موضوع د ادبیاتو دتاریخ دپاره تش دیوی موضوع په حیث قدراوارزښت لری سربیره پردي په دي کتاب کښي دځینو نورو جنګناموپه شان اغراق اومبالغه لیدل کیږی مثلاً شاهزاده پتن دزقوم زوی یوو یشت ګزه ونه اوپنځلس ګزه سر اود سمځي په شان خوله لری. کله چه حضرت علی دپتن دمقابلی دپاره راوزی نو په دومره لوړ آواز زغ

کوی چه دامید وار وښځو په ګیډو کښې بچیان مړه کیږي او پس له څلورو ورځو مقابلې څخه هغه لوی کافر څملوی لاسونه او پښې پرې تړي.

ددې کتاب لیک دودهم ډېره ابتدایی بڼه لري مثلاً د تواضع کلمه د توازع په شکل لیکي په مقابل کښې د پښتو (تپاك) د (تفاق) په بڼه لیکي. داسې ښکاري چه ملاصفي شاه خپل نوم هم صحیح نشي لیکلي اما خپلو مذهبي احساساتو مجبور کړي دي چه یو بشپړ کتاب را نقل کړي.

مونږ ددې نسخې په باب اوس همدومره خبري کافي ګڼوښایي په راتلونکي کښې به د داسې موضوعاتو په باب مفصل تحقیقات وشي (روهي)

یادونه: کله چه مونږ دډاکټر میکنزي د پښتو کتابو نولست ته مراجعه وکړه هلته د نوموړي نسخې نوم «زقوم بادشاه» لیکل شوي دي. (اداره)

لیکونکی ف م ننگ یوسف زی

زړه کلا

زړه کلا په هند کښې د ډیلی دزوړاه نوی ښار
ترمنځ دپخوانی اندرپرستا اوجهان پناه ښار
په ځای باندې مغلی هما یون او پښتون شیرشاه
په ګډه سره جوړه کړې لو یه کلا ده چه دمغلی
او پښتنی تاریخ ډیر اړخونه ورسره پیوند دی.

دزړې کلا دتاریخی نوعیت په باب کښې پخپله تاریخ هم نر ډیره حده پورې ترور اودیوې خاصې بشپړ نتیجې نه محرومه پاتې شوی دی- بیاهم تر کومی پورې چه دتحقیق اوپلټنې سررسیدلې دی- نو پلټونکی په دې خبره باندی یو موټی شوی دی چه دا کلا په هاغه ځای باندې ولاړه ده چه تر دې پخوا دغلنه « اندر پرستا » نومی ښار موجود ؤ.

دمؤرخینو خیال دی چه ددې کلا بنسټ په (۱۵٤۱ع) کال کښې ایښودل شوی دی او بانی یې مغلی پاچا همایون ؤ. لیکن ددې سره سم ددې کلا په لړ کښې دتاریخ ډیرې پاڼې دپښتون ټولواک سوری شیرشاه په حق کښې ډکې شوی دی اوددې لویې او مجللې ودانی و پاړ تر ډیره پورې دسوری شیرشاه دتعمیری هڅو او کوښښونو د پګړی ول بلل کیږی.

دمؤرخینو په‌عقیده څه‌وخت چه‌سوری شیرشاه‌خپل‌مغل میرڅمن همایون ته ماتی‌ور کړه او‌دډیلی‌تخت‌یې‌ونیوه‌نو‌دنورو پښتنو واکوالانو غوندې‌سوری شیرشاه په‌تعمیری ذهن کښې هم‌دیوه نوی ښار‌دجوړولوهیلې‌سرو‌واهه .

په‌دې‌لړ کښې‌سوری شیرشاه دځای ځائیګی په لټه پسې سترګې‌پره کړې ولې د ډیلی په‌خواوشا کښې په‌هیڅ‌ځای دده زړه‌اوبه ونڅکلې پرته له‌دې چه‌د همایون دنښولی ښار«جهان پناه» په‌څڼه‌ور بل‌دخپل تعمیری ذوق ګوتې وتپوی او دغه نیمګړی ودانی بشپړه کړی . . هم‌داوه‌چه‌شیرشاهی‌عزم دزړې کلا غزولو او بشپړولو ته‌اوږه ور کړه .

زړه کلاچه‌دډیلی دنوی ښار په‌ختیزه لمن کښې دجمنا‌دسیند په‌غاړه په یوه جګه‌غونډۍ باندې‌په‌اوږدو‌پښوغوزیدلی‌ده‌چارچارپیره‌نژدی د یارلس‌فوټه‌پلن او په ځینوځایونو کښې تر ینځو اویافوټو‌پورې‌جګ‌دیوال‌لری ددې کلا درې لوی او درې‌واړه ورونه دی چه په‌دوی کښې یو پریوتیځ بل‌نیلابی‌او بل سوا یلی بللی کیږی‌ـ‌دفصل په‌دننه ډډه جوخت‌ولی له‌مځکی‌لږاوچت‌اوله لوی فصل نه لږچت یو بل‌فصل‌هم‌تللی‌دی چه‌په‌دغه‌دوهم‌فصل کښې‌وړې‌وړې کوټنی‌اوخونې دی‌ـ دا سې ښکاری‌لکه چه‌په هغه وخت له دې نه دلښکری ځوانانو اوبدرګمارو داستوګنې دپاره کار اخیستی‌شوی وی .

ددې کلانیلابی ورچه دجوړښت له مخی د کلا د نورو ورونو نه بیل اوځانته بریښی‌په ۳٤ـ ۱۵۳۳ ع کال کښې مغل‌پاچاهمایون‌جوړ کړی دی‌په دې وره کښې دخړې شډلې‌تیږې‌او ډیرلږدسرې مهینې تیږی کارشوې دی چه ددې په سرباندې له سرې مهینې تیږی‌نه دچترو ډولی درې ګومبزې جوړی شوې دی .

د دې وره لاندې برخه ډیره ژوره ده اود کلانه د باندې وتلو د پاره ورته پوړی هم کوزې شوی دی .

د نیلابی دروازې سره نیغ مخامخ بیخی به یوه تنا و سوایلی ور جوړ شوی دی .

دا دروازه که څه هم تر ډیره حده ړنګه شوی او کنډواله ده بیاهم له دې نه دوه ډو له ذوق بر ېښی . . . .

اوددې وجه داده چه ددې لومړنی برخه همایون اوپاتی شونی حصه یې سوری شیرشاه جوړه کړې وه دا که هم څه درغاوڼې له مخې نیلابی دروازې ته ور ته ده خو ټول ساختمان یی له نورو ورونونه ډېر توپیر لری .

ددې دروازې باندنی برخه اوپه اوچت سر باندې چترۍ ډوله ګومبزې له سرې مهینې تیزې نه جوړې دی اوپاتې ټوله برخه یې دخړې تیزې اومسالې یوګرم دی .

پرته له دې دنیلابی اوسوایلی دروازې ترمنځ په نیما یی پیوند د پریوتیځ لور فصل کښې چه کومه لویه دروازه ده -- د هغې دجوړښت ډول له دې دواړو ورونونه بیل او ځانته دی چه په دې کښې دفنی خصوصیتونو رنګین ذوق اوپه بیا بیادحفاظتی تد بیرونو زیات خیال ساتلی شوی دی .

داد کلاترټولولویه دوه پوړیزه دروازه ده ولې په دې کښی دمځکې نه لاندې دروازه نشته او دمځکې لاندې پوړۍ هم نه دی کوزې شوی . البته د دې په مخ کښی د باندې لوری ته یوه سمه دمه او ښوینده لاره را وتلې ده . ددې دروازې ډیره برخه له شډلې خړې تیزې او باندنی حصه یې له سرې مهینې ګټې نه جوړه شوې ده .

د دې په سر کښې دسرې مهینې تیزې وړې وړې پالکی ډولې تمبړۍ او په څوکه یې یوه ګومبزه جوړه شوی ده .

په دې دروازه یوه وړه لیك دړه ځړیدلی او دلرغونو آثارو دمحکمې له خوا پرې داسې لیکل شوی دی :

ددې کو وټ دانی له ۱۵۳۰ ع کال نه پیل شوی او تر ۱۵۵٦ ع کال پورې بشپړه شوې ده .

ددې کلا ورونه او د باندې چارچاپیره فصل یې مغل پاچا همایون او د ننه زیاته برخه یې پښتون ټولواك سوری شیرشاه جوړه کړی ده .

دزړې کلادننه برخه چه په خاص ډول دشیرشاهی ذوق هنداره ده دباندې برخی یافصل په نسبت زیاته ړنګه او تباه شوی ده له دې کبله سړی دهغې په تعمیری نزاکتونو او فنی خصوصیاتو باندې په زیاتې رڼا اچولو کښې پاتې راځي او نشی کولای چه په زغر ده باندې دپښتون شیرشاه دودانۍ او تعمیری فن دذوق په خط وخال باندې رڼا واچوی بیاهم په دی لړ کښې چه څه لږو ډیر مو ږ خپلو ګرانو لوستونکو نه وړاندې کولای شو هاغه د کلا په منځ کښې دشیر منډل یا شیر ماڼۍ او د کلا په ختیزه غاړه دشیرشاهی جماعت هاغه ودانۍ دی چه د زمانې له ټیټ وهسك او سپین سترګو چپاوونو نه یې خپل موجودیت یو څه نه څه ساتلی دی .

شیرمنډل یوه اته ګوټیزه اودد ریو پوړومندرۍ غوندې مناره ده چه ددې په دوهم پوړ کښې یوه کوټۍ جوړه شوې ده .

دې ودانۍ دهسکیدو دپاره ددې په یوه ډډه کښې کږه وږه ننګه لیارپاس ختلې ده . دامناره له سپینې مهینې تیږی نه جوړ شوی ... اوځای په ځای پکښې دمرمرو سپینې لیکۍ زغلیدلی دی ....

ددې په سر باندی او چت څلورو واړوغاړو ته دسرومهینو تیږو یو ښکلی بلیکنډ لګیدلی دی . په دې کښې شك نشته چه شیرمنډل دتعمیری خصوصیاتو یا فنی نزاکتونو له مخی ښایسه او زړه راکښونکی دی .... واې داچه دڅه دپاره جوړ شوی دی .... داویل لږ ګران بریښی .... البته دومره به ضرور ووایو چه دا

مناره ډول تعمیر د کلا په منځ کښې ښه جګ او په اوچت ځای ولاړ دی او د کلا دټولو برخو دننداري دپاره یوه غوره وسیله ده او کیدای شي چه هم ددی مقصد دپاره جوړ شوی وی . ددې ودانۍ په ترڅ کښې نیټه لیك داهم زیاته کړی ده چه څه وخت مغل پاچا همایون دډیلی تخت بیرته ونیوه نوله دې ودانۍ نه یې د خپلې ځا نګړی کتا بخا نې کار ا خست ...او یو وخت هم ددې ودانۍ له او چتو پوړونه راوغورځید او په حق و ر سید .

اوس نوراځیء چه دشیرشاهی جماعت په خوا ورتیر شو ....

داجمات د کلا په ختیزه نیلابی ډډه کښې چه تر څنګه یی هندمشهورمذهبی سیند«جمنا»بهیږی په یوه داسې جګ ځای ولاړ دی چه ور څخه تر ډیرې لری پورې دجمنا دسیند اوله سیند نه پورې غاړه شته بڼو نه ا و ښکلی مناظر چه د نندارچیانو دسترګو واګی ځان پلورااړوی . ښکار ی .....

داجماعت پښتون ټولواك سوری شیرشاه په ١٦٤١ع کښې جوړ کړ ی و ... چه په دې کښې دتعمیر دفن . دپښتنی ذوق نښی نښانې تر ډیره حده په څر ګند ډول موجودې دی !!! .

داجماعت ټول دیوه اوږ دمنډو په شکل کښی له سرې مهینې تیزې نه جوړدی او ځای پر ځای په تیره بیا په محرابونو کښې یې دسپینو مهینو مر مرو ښکلی او مهین کار شوی دی چه نندار چې ورته ګوته په خوله پاتې کیږی ... اوپه زعزه ده یې دلطیف ذوق او مستظرفه صنعت یوه بې ساوی بیلګه بللی شی...

پرته له دې ددې په ډبر یزودیوالونو کښې ځای په ځای جغنډۍ ډولی ګلان اوپه بیا بیاددې په چت کښی چه لاسو نو په کوم ډول کار کړی دی .. دهغې څرګند مثالونه اوس هم دلرې پښتو نخوا په ودانو او په خاص ډول دلویولویو جماعتونو

په بیشو نو (تیرونو) او سرو «تدریو» کښې دګلکاری په شکل لیدلی کیږ ی.

ددې جماعت دوانی یوبل خصوصیت دسرو تیزونه دکوزړوپه ډول جو ړشوی بلی کنډ ار پخپله ددیوالونو په تیزو کښې دکاپرګل «آفتاب پرست یاچار ګل ډولی ودانو دلرګوبلی کنډونه او دختو ګټو په د یوالونو کښې دسرې خاور ې او سپینې چونې چار ګل ډولی ګلونه بوخ بوخ کیږ ی .

ددې جماعت په ډبریزو دیوالونو کښې کلمهٔ طیبه او د قر آن عظیم الشان بیل بیل ایتونه لیکل شوی دی چه دخطاطی دفن ډیر ښکلی او نازک شکل نرسیموی.

دلته داخبره دذ کروړ ده چه ددې ودانی فنی خصوصیات دمغلو دتعمیر ی فن سره تر ډیره حده پورې توپیر لری او پخپل ځان دننه د پښتنو دتعمیر ی ذو ق دنزا کتونو دخوندی ساتلو سره سره یوڅه نه څه ه هند د راجستان دزو ړ ا و تاریخی ښار «جې پور» پخوا نو ودانوته چه دآرینو دتعمیری فنونوجوتې بیلګې لری ورته پر یښی.....

پخواتردې چه دزړې کلاو بیابیا د شیر شاهی جما عت د تاریخی و دانی له خوندوری لنداري نه بیرته وجاروځو .... ددې جماعت یوې ژورې څاه ته به هم ګوته ونیسو ....

ددې ژورې او پخې څاه په دننه غاړه یوه ډبره باندې داتوری لیکل شوی دی:

داڅاه د ۱۹۰۷ع کال دجنوری دمیاشتې په ۲٦ نیټه د ا فغا نستا ن ټو لو ا ك اعلیحضرت امیر حبیب الله خان جوړه کړې ده .

(پای)

دننگر هارد جلال کوټ دباغونویوه ښکلی منظره ، (دمطبوعاتوعکاسی)

د پشې ماتکه

(۲)

ګیرمن وویل: ماته پټه زینه راوښیئ. زه به پخپله ووځم. لیزاجګه اشوه دالماری څخه یې کلی را واخیسته او ګیرمن ته یې ور کړه دهغه په حقله یې مفصله توضیح ور کړه ګیرمن دلیزاسوړ بی ځوابه لاس په خپل لاس کښې ونیواو ددې ځوړند سرته دمچې لپاره ور ته یې شواو ولاړ.

د پیچلی زینې څخه کښته شود (کونتس) د خوب کوټې ته ننووت مړه بوډی لکه مجسمه ناسته وه په تندی کښې یې ژوره آرامی ښکاریده ګیر من مخامخ ورته ودرید ترډیره ځنډه یې ورته وکتل. داسې ښکاریده چه ګیرمن په دې خطرناك حقیقت ځان متیقن کوی. په اخر کښې خصوصی کوټې ته ننوت په څپ څپلی یې دروازه پیدا کړه د تیاری زینې څخه یې په تیریدو پیل وکړ. په دې حال کښې عجیبو وسوسو ګیر من ذ هنیت مختل کوی په دې چرت چه ممکن (٦٠) کاله دمخه یه همدې ساعت د همدغې خوب کوټې ته یو نیکمرغه انسان چه دریشی یې په وریښمینو تارو نو ګنډل شوی، وینښتا نیی په (A-Aloiseau-Royel) موډسره تیارشوی درې کو نجه خولی یې په ټټر پورې نیولی او ددې دینې څخه تیرشوی وی. هغه ځوان به دیرې مودې نه را په دې خوا په قبر کښې وی. دده محبوبې (کونتس) نن دزړه رپیدل بس کړل.

دز ینې لاندې ګیرمن دروازه پیدا کړه په کلی یې خلاصه کړه. دهلیز ته ووت او دهغه ځای نه کوڅې ته ورګډشو

پنځمه برخه

د دې اخرې شپې څه خه دري ورځې وروسته دسهار په(٩) بجو ګیرمن کلیساته و لاړ چه په کلیسا کښې د(کونتس) دجنازې په مراسمو کښې ګډون و کړی. ګیر من پخپل کارهیڅ پښیمانی نه حس کوله. ولې دخپل وجدان آوازیې هیڅ نه شو کرارولای چه هره ګړی به یې په تکرار داخبره کوله (ته دبوډی قاتل یې . . .) اګر چه د ګیرمن په خدای رښتینې عقیده سسته وه مګر په ډیرو مزخرفاتو یې عقیده درلوده یوله هغوداچه ممکن مړه شوی (کونتس) دده ژوند ته ضرر ورسوی نو په دې اساس یې دا فیصله و کړه چه د (کونتس) دښخولو په وخت کښې قبر ته حاضر شی او دخپل ګناه بخښنه وغواړی. کلیسا دخلکو څخه ډکه وه ـ ګیرمن په ډیره مشکله دجنازې و خواته ځان ورساوه د(کونتس) تابوت په مفشن تخت باندی دبخملی ډولی لاندی ایښی و د (کونتس) دواړه لاسونه دصلیب غوندی په سینه ایښی وو او دلی خولی او سپین داطلس کمیس وراغوستل شوې و شا وخوا یې دکور خلک راټول شوی وو مز دورانو توری جامې اغوستی وې. توری فیتی یې په اوږو پرتې وې شمعې یې په لاسونو کښې نیولی وې. زامنو لمسیانو کړوسیانو او خپلوانو یې دغم توري جامې اغوستی وې

هیچا نه ژړل او ښکې تویول بیځایه کار وګرته ښکاریده (کونتس) دومره زړه شوې وه چه په مرګ یې هیڅوک نه وخپه زیاتره خپلوانو دډیرې مودې څخه پخوا دې ته دمړی په سترګه کتل.

مشهور کشیش دقبر په غاړه وعظ او نصیحت کاوه ـ پرساره ژبه اوزړه وړونکو

جملوې ددې ښه ژونداوارامه مرګ ستایه چه ((دعیسوی مرګ لپاره یې په خوښی اوارامی انتظار یوست . کشش وویل دمرګ فرښتې هغه وخت ددې روح وا خیست چه دخیر په باره کښې په فکر کولو لګیاوه دشپې میلمه (فریښتې) ته یې انتظار یوست)) دغم مراسم په معمولی ډول روان وو.

لومړی د کونتس خپلوان دې ته دخدای پامانی دپاره راغلل. وروسته هغه میلمانه چه ازه موده دمخه یې دهغی په پر شوره خوشحالی کښې برخه درلوده دورو ستی ځل لپاره یې هغه انسان ته داحترام سرټیټ کړ. بیاد کورخلک راغلل . په اخر کښې یوه زړه نو کره چه د (کونتس) همزولی وه راغله دووځوانو پیغلو دتخرګو نو څخه نیولی وه ځمکی ته دټیټیدو توانی نه درلود. دهغه په عوض یې د (کونتس) څخه سوړ لاس داحترام لپاره ښکل کړ. دا یوازنی انسان وچه د (کونتس) په مرګ یې څو قطرې او ښکې تویې کړی له دی وروسته ګیرمن دافیصله وکړه چه دخدای بخښلی بو ډی تابوت ته ورنژدې شی. ګونډه ئی ووهله سر یی داحترام لپاره په ځمکه کښیښو د څودقیقې همد غسی په ساړه غولی چه د نا جو په لر ګو فرش شوی وپر وت و کله چه پور ته شو دده مخ هم د (کو نس) په شان تك سپین شوی و تابوت ته ورنژدی شود احترام سر یې ورته ټیټ کړ .. په دی لمحه کښې داسې ورته ښکاره شوه چه مړه شوی (کونتس) په تمسخر ورته ګوری اوسترګکونه ورته وهی ګیرمن په شاو تمبید ه پښه یې په پښه واوښته شاته په ځمکه غو ځار شو خلکو ګیرمن پورته کړ په عین زمان کښې لیزاهم د کلیسا څخه په بی هوښه حالت یووړل شوه دی پیښو داد غم مراسم دڅودقیقو لپاره وځنډول دخلکو تر منځ غلی غلی خبری پورته شوې یوه درباری مامور چه د (کونتس) نژدی خپل ویوه انګلیس ته چه دده دڅنګ سره ولاړو په غوږ کښې وویل داځوان منصبدار دمړه شوی (کونتس)

مټونګی دی په دی وخت کښې انګلیس په سړه سینه ځواب ور کړ « اوه ! »
ګیرمن تمامه ورځ بیحاله و کله چه یوی سړې کافی ته دډوډۍ لپاره ولاړ د حپل عادت په خلاف یې زښت ډېر شراب وڅښل په دی تمه چه روحی تشویش او خفګان یې څوګړی لری کړی مګر شرابو یې تر پخوازیات خیال مشوش کړ کو ر ته راغی ددر یشی سره په چپر کټ ولویده او په درانه خوب ویده شو ګیرمن دشپې له خوبه راویښ شو سپوږمۍ کوټې ته ورننـو تلی وه ساعت ته یې و کتل پنځلس دقیقی دروبجو ته پاتې وې خوب یې ولاړ په کټ کښې کښیناست دزړې (کونتس) دفاتحې سرګذشت یې په ذهن کښې هاخواد یخوا کیده .

په دی وخت کښې چاد کړ کی څخه دباندې کو ټې ته و کتل بیاسمدستی لیری شو ګیرمن هغې ته هیڅ توجه ونکړه یوه دقیقه وروسته په مخا مخ کو ټه کښې دوره دخلاصیدو آوازپورته شو ګیرمن په دی فکر چه داخوزمانفر خدمت دی ، دی عموماً نشه وی ممکن دشپې دهوا خوری نه بیرته راغلی ې مګر یوه شپبه وروسته دنااشناقد مونو آوازد ګیرمن غوږ ته ورغی یو څوك په لاره روان او پښې یی کشو لی دروازه خلاصه شوه یوه ښځه په سپینو کالیو کښې ور ننوتله ګیرمن فکرو کړ چه دازمازړه د ایه ده اود یته ډیر حیران شو چه دشپې دومره ناوخته راغله مګر هغه ښځه چه سیین کفن یې په غاړه وو ورو ورو ورنژدې کیده اودد ه مخ ته ودریده ګیرمن وپیژ ندله چه دا (کونتس) ده .

کونتس په کلك آواز وو یل زه د خپلې عقیدې په خلاف تا ته راغلم ځکه مانه امروشو چه ستاغوښتنه ومنم سه تائی هفت تائی توس دد ې قطعو چل پر له له پسې لو به ګټې ولی په دی شرط چه په شپه اوورځ کښی تریوې قطعې زیات چل ولاړ نشې اوهمد ارنګه نباید ټول ژوند د قمار لپاره وقف کړی ه اخپل خون تاته بخښلې د ی په

دی شرط چه ته زماله رضاعی لور لیزا ویته ایوانونه سره واده و کړی داخبره یې و کړه غلی یې مخ وګر ځاوه دروازی ته ولاړه بوتونه یې په ځمکه کشول اوور که شوه ګیرمن په دهلیز کښې دوره اواز واوریده اودایې ولیده چه څوك دبید یانه په کړ کی کښی دده وخوانه ګوری ګیرمن دومره بیحاله شوی وچه تر ډیره وخته پورې عادی حالت ته نشو راتلای بلی کوټی ته ولاړ هلته نفرخدمت په غولی ویده ونفرخدمت یې په ډیره مشکله سره ویښ کړ نشه یې عموماً عادت وه نن هم دو مره نشه شوی وچه هیڅ یې نشوی ویلای دهلیز په لوری در وازه بنده و ه ګیرمن بیرته خپلې کوټې ته راغی شمع بې بله کړه اوداخپل خیال اوتصوریی د کاغذپر مخ ولیکه .

شپږ مه برخه

دوې مخالفې سیاسی مفکورې هیڅکله دانشې کولای چه په یوه اخلاقی محیط کښې ګډ ژوند وکړی لکه څنګه چه په طبیعت کښې دوه شیان په عین وخت کښې نشی کولای چه عین ځای ونیسی .

لږ وخت وروسته سه تایی-هفت تائې-توس د(کونتس) یادد ګیرمن له تصور څخه وایست دسه تایی-اوهفت تایی-اوتوس فکر دګیرمن له ذهن څخه نه تلو ددې فکر یاد دګیر من په شونډو ژوند کا وه کله چه به ده ښکلی پیغله ولیده نودځان سره به ئې وویل داخومره دنګه ځوانی لری په رښتیا چه دلمل سه تائی ده او که به پوښتنه ځنی وشوه چه څو بجې دی نوځواب به ئی ور کړ پنځه دقیقی کمې هفت تائې - اوهرخیټور سړی به ورته توس ښکاریده سه تائی هفت تائی اوتوس په وینه اوخوب دده ملګری وو .

چی په بیلو بیلو شکلو نو به ئې ځان ورښکاره کاوه سه تائی دده په نظر ده ګراندی

فور، ښکلی ګل و - هفت تائی دګوتیك ښکلی دروازه او توس ئې د غنی (عنکبوت) جال باله - ټول افکار یې فقط دې نقطی ته راتلل چه څه وخت به ددې (سر) څخه استفاده کوی چه په ډیر ګران قیمت ورته تمام شوی و ګیرمن په دی فکر شو چه دعسکری مسلك څخه استعفا و کړی نو بیا سفرونه و کړی او هم یې دا فیصله و کړه چه د (پاریس) دقمار بازی په عمومی اولوبو کورونو کښې پیسې وګټی اوس نو یو کار وشو چه دی یی له دی ټولو تکلیفونو څخه خلاص کړ.

په مسکو کښې دمشهور چکالیسکی په مشری دشتمنو قمار بازانو لپاره یو انجمن جوړشو چکالسکی ټول ژوند په قمار کښې تیر کړی و چکالسکی په قمار بازی کښې له ملګرو څخه اقرار خطونه اخستل او په عوض کښې به ئې نقدې رو پی ور کولې په دې اساس یې میلیونه روبله لاس ته راوستلی وو دده تجربو دملګرو اعتماد لاس ته راوستی و دچکالسکی دکور دروازه دهر چا په مخ خلاصه و ه دده مهربانی او ښې وضعې او همدارنګه دده مشهور اشیزددی سبب شول چه خلك ده ته داحترام په سترګه وګوري. چکالسکي پتربووګ ته ولاړ هلته دده په کور ځوانانو ډیر هجوم وروړ. په قمار بازی کښې میلمستیاوې اوغوندې یې هیرې شوې دقمار خوند دښکو پیغلو یارانې ور کې کړې تروموف - ګیرمن دچکالسکی کور ته راوست.

ګیرمن او تروموف دخوښکلو کوټو څخه تیرشول چه دمؤدبو نوکرانو څخه ډکې وې - څو کسه ژنرالانو اودلوړې رتبې مامورینو دویست (۱) لوبه کوله.

نورو ځوانانو په کرسیو کښې تکیې وهلې وې، شیریخ یې خوړل پیپونه یې لګولی وو دمیلمنو په کوټه کښې په یوه لوی اوږده میز تقریباً شل کسه قمار بازان

(۱) دقمار پوډول دی چه لوبه دوه نفری دیږی.

راغونډ شوی وو دهغوی په منځ کښې کوربه (چکالنسکی) ناست ؤ اوضمناً د قمار خزانه دارهم دی ؤ چکالنسکی شپیتو کلوته هم رسیدلی ؤ ظاهری بڼه یې ډیره محترمه وه سرې تك سپین شوی ؤ پنډه تازه مخ یې ډیر خیر خویه ښکاریده ستر ګې یې دډیوی په شان لحلیدی دخنداڅې هره لمحه دده په شونډو راتللې نرومو ف ګیرمن چکالنسکی ته معرفی کړ. چکالنسکی دګیرمن لاس په دوستانه ډول ونیوه او هیله یې ورڅخه وکړه چه باید وچه رویه ونکړی او قمارته دی ادامه ور کړی دقمار میدان اوږد اوپه میز باندې تردیر شوزیاتی قطعې پرتې وی دهرې قطعې له لویدلو ور وسته چکالنسکی لږڅه لوبه ځنډوله ترڅوچه بایلودلی پیسې ولیکی . چکالنسکی په مؤدبانه صورت سره دقمار بازانو مطالبې اوریدې اوله هغه زیات په ډیر ادب سره یې دهغو نښه شویو قطعو کونجونه سمول چه دځینو قمار بازانو لخواقات شوی و په اخر کښې میدان خلاص شو .

چکالنسکی دقطعو په ګډولو پیل وکړ اودبل میدان تیاری یې نیوله . ګیرمن دیوه پنډسړی ترشاچه هغې هم په قمار کښې برخه درلوده دلو بې میدان ته لاس ور وغزاوه اوویې ویل :

اجازه ده چه یوه قطعه میدان ته واچوم .

چکالنسکی موسکاو کړه غلی اود رضایت په ډول یې سرونښو راوه نر و موف وخندل اوګیرمن ته یې مبارګی ور کړه چه له ډیری مودې وروسته د قماوبازی په میدان کښې ګډون کوی اودده بریالیتوب یې وغوښت .

ګیرمن وویل : ښه ده په قطعه باندې یې په تباشیر سره دخپل چل اندازه ولیکله.

چکالنسکی ستر ګې وځمبلې او پوښتنه یې وکړه څو؟ ډیرو بخښی ء زه نه وینم.

ګیر من وویل : اوه څلویښت زره رو بله په دی خبره ټولو قمار باز انو په

تعجب سره په پووار سرونه یو بل ته وګرزول اود ټولو ستر ګې ګیرمن ته متو جه شوی . نرو موف فکرو کړ .

چه کیر من لیو نی شوی دی چکا لنسکی په عادی مسکا سره رویل ا جازه را کوی تاسې ته داخبره و کړم چه ستاسې چل ډیر لوی دی ـ هیڅوك تردوه سوه پنځه اویا رو بلوز یات چل نه دی تللی .

کیرمن وویل څه شې تاسی! زما چل په قطعه بازی کښې نه شاملوی ء کنه. چکالنسکی بیاد رضایت په ډول سر وښوراوه او ویی ویل :ملګری په ما باور لری له دی سببه زه باید تاسی ته ووایم چه یوازی په میده پیسو سره په قمار کښې شریکیدلی شی ء البته زه باورلرم چه ستاسی وعده دمنلو وړ ده مګرد قطعه بازی دتقریب او سنجش دپاره هیله کوم چه پیسی په قطعه باندې واچوی ء ګیر من دحبیب څخه نوټ راو کیش او چکالنسکی ته ئی وروغور ځاوه چکا لنسکی زر نوټ ته و کتل او بیایی دده په قطعه باندی کښیښود.

میدان شروع شو ـ نوتا ئی راووته او بیا سه تائی .

ګیرمن خپله قطعه وښود له او بیایی وویل سه تائی پیسې وګټلې دقمار بازا نو ترمنځ پس پس شروع شوه.

چکالنسکی تنده تروشه کړه مګر سمد ستی بې په مخ بیاندی مسکار اپیداشوه دګیرمن څخه ئې پوښتنه و کړه غواړې چه خپلې ګټلې پیسې واخلې.

مهربانی و کړی ء

چکالنسکی له جیب څخه څو نوټونه راویستل او ګیرمن ته یې ور ډرل ګیرمن پیسې واخستلې او دمیز څخه لیر ې شو .نر وموف دې تصادف ته په تعجب شو ګیرمن یو ګیلاس لیمو ناټ وڅکل او کورته ولاړ .

بل ماښام بیا ګیرمن د چکالنسکی کورته ورغی. کوربه بیا خزانه دارو ګیرمن میزته نژدې شو. قمار بازانو دستی ځای ورکړ چکالنسکی د سلام په ډول په مهربانی سره سروخو ځاوه ګیرمن دنوی میدان په انتظارو په نوی میدان کښې یې قطعه واخستله خپلې ځانګړی اوه څلو یښت زره روبله اونورې ټولې ګټلې پیسې یې په یوه وار په قطعه واچولې.

چکالنسکی لوبه شروع کړه غلام راوخوت او وروسته هفت تائی. ګیرمن خپله هفت تائی بیاوښود له او میدان ئې وګاټه

ټولو خلکو دتعجب ساړه اسویلی وښکل چالنسکی هیجانی شو څلور نوې زره روبله ئې وسنجول او ګیرمن ته ئې ورکړل ګیرمن په ډیر سړه وضعه پیسې واخستلې اوسمدستی ولاړ.

بل ماښام بیا دقمار میزته حاضر شو ټول خلك دده په انتظارو و جنرالانو او لوړو مامورینو دویست لوبه بس کړه ددې لپاره چه داسې فوق العاده لوبه وګوری. ځوانان منصبداران له کرسیو څخه راپورته شول- نوکران دمیلمنو په کوټه کښې راټول شول- دګیرمن ګرد چاپیره ودریدل. نورو قمار بازانو په قمار کښې برخه وانخیسته په ډیره ناارامی سره یې دهغه لوبې لوبې نتیجې ته انتظار یوست چه دچکالنسکی او ګیرمن ترمنځ کیدونکی وه دچکالنسکی رنګ تښتید لی ؤولې بیاهم دده پرشونډو مسکا هغه خوا دېخوا کیده دقطعو دوه نوی قطعې خلاصې شوې چکالنسکی قطعې ګډې وډې کړی ګیرمن قطعې کاټ کړی خپله قطعه ئې واخیسته اودنوټو نودانبار لاندې ئې پټه کړ- دلوبې تر تیبات دجنګ او مبارزې سره شباهت درلود په کوټه کښې چپه چوپتیاوه.

چکالنسکی لوبه شروع کړه . لاسونه ئې رپیدل ماتکه اوتوس راووتل .
ګیرمن وویل توس لوبه ګټلی ده اوخپله قطعه یې وروښودله .

چکالنسکی په مهربانی سره سرو خوځاوه ستاسې ماتکه مغلوبه ده ګیرمن یو ناڅاپه شوك وخوړ رښتیاهم چه دده په لاس کښې دپشې ماتکه وه ګیرمن په خپلو سترګو ویسانه درلوده نه پوهیده چه څنګه دا کاروشو . په ګړی کښې ورته ښکاره شوه چه دپشی ماتکه اشاره اومسکا کوی دپشې ماتکې دمړې شوې بوډی سره فوق العاده شباهت درلود . دې غیر معمولی شباهت په ګیرمن خورا سخته بده اغیزه وکړه په ویره یې زغ وکړ . چکالنسکی ګټلی پیسې ځانته را نژدې کړې ګیرمن بېحرکته ولاړو کله چه دمیز څخه لیری شو دشورماشوراوازونه پورته شول قماربازانو وویل څومره خوږه لوبه وه چکالنسکی بیاقطعې ګډې وډې کړې لوبه په معمولی ډول روانه شوه .

ګیرمن لیونی شو اودابوخو فسکیه دشفاخانې په ۱۷ لمبر کوټه کښې بستری دی . هیڅ پوښتنې ته ځواب نه درکوی په غیرعادې صورت په ګنګمژبه غږیږی . سه تایی ـ هفت تایی ـ توس ـ سه تایی ـ هفت تایی ـ ماتکه .

لیزا له هغه وروسته دیوه ډیر خواخوږی ځوان، سره واده وکړ . میړه یی په کوم ځای کښې کار کوی اودښې هستی څښتن دی . دذې میړه دمړې شوی (کونتس) دپخوانی ناظرزوی دی لیزا په خپله هم یوه غریبه نجلی چه ددې له دوستانو څخه وه درضاعی لورپه حیث روزی .

تومسکی نوی رتبه اخستی ده اوپه دې نژدې موده کښې پرنس پالیناسره واده کوی .

(پسای)

غوث خیبری

پاکې وینی

دښاغلی خیبری دا کیسه دناتو رالیسم په
سبك لیکل شوې ده اوله نا تورا لیسم سره
داشنایی په غرض یې بی تصرفـه خپروو.
(اداره)

زمونږ دځمکو لمرلو یدیزې خواته یوزوړ او نړیدلی کورو، چه خلکو به ورته (کنډر) او (کنډ واله) ویلې. دوه درې ګزه غولی او دوه نیمې کوټې ئې لرلې. دوه کوټې په کښې لږې بنیاد مود اوسیدو وې. خو هغه نیمه ئې دغریب د خښتك په شان سوری سوری اوغار غاروه. یوې ډډې ته یې د «ګل بختې ابی» زړې او رینجاړې جامې پرتې او بلې خواته ئې پنځوسو شپیتو کوترو ځالی اچولی وې او په ډیر غومبر اوزیاتو غولوئې هغه غریبه لیونی کړی وه.

ددیوالونو شاوخواته خلکو دومره متیازې کړې وې چه د کور د یوالونه ئې وراسته کړی وو او په اړو پشکال کښې به دسخت بوی له لاسه «ابی کمبختې» کور پرېښو او بهر دیرې ته به یې کالی چلول...

ددې بدنصیبې بوډۍ که به هرڅو مزه هغو «بی تمیزه» خلکو ته بدرد ویل زاری اوعذرونه به یې ورته کول - په تیږو اولوټو به یې ویشتل خوچیر ته یې څه ګټه

لیده که «مشران» به نورو هغه ځای ته نه ورنژدې کیدل نوواړه ماشومان خو به دچاپلار هم نشو منع کولی پاتې خولا هغه ناتوانه «ګل بخته ابی» وه . . . پ هغه دوه درې ګزه غولی کښې یوې ډډې ته یوه ډیر زړه داو بو څښلو «چاټی» پرته وه چه عمر یې بی له «ګل بختی ابی» نه بل چاته نه و معلوم او نه چاته دا پته وه چه خدای خبر هغه دې ابی ته دغور نیکه څخه پاتې وه او که دټر نیکه نه .. دډیر روړ والی څخه پرې دپاسه لوبشت لویشت شنه ولاړ وو .

بلې خوانه څه اندازه دغواو میښو تپیا کې پرتې وې چه نیما یی دیوال پرې ښایسته شوې و اوداسې ښکاریده لکه دکلیو باندو تنکی پیغلې چه به سپین مخ ی شماره خالو نه کښیږدی . . .

وړاندې ورنه یوه پخوانی - زړه اوماته «څرخه» پرته وه اوخاورې یی خوړلې لکه یوې زړې اوسپین سرې بوډۍ چه سر په زنګون ایښی وی او دخپلې تیرې شوی ځوانی اوپیغلتوب ارمان کوی . . .

څرنګه چه کور لږ وړوکی شانې ونو «ګل بختې ابی» به لس اته تور اوسره چرګان ځان سره په کوټه کښې ویده کول اوچه چرګانو به ځان ټوله شپه «تش» کړی ؤ نوسحردو خته به «نښترې» غریبې هغه په خپلو تنکو سپینو غو ښینو لاسونو پاکول .

«نښتره» د (ګل بختې ابی) پیغله ماه جبینه لور وه دشیا ړس کالو وه او په وړو کوالی کښې یې پلارمړ شوی ؤ .

(نښترې) سره دموزدومره مینه وه چه هیچا یې اندازه نشوه لګولې . هره سخته او ناخواله به یې په ځان راوستله خو دایې نه منله چه د (نښترې) په تندی دې خوله راشی او یادې یې لاس په خاوره ککړ شی . . .

خلکو به ویل ماشوم چه وړو کی دمور په غیږ کښې یتیم شی نو دمور و رسره داسې عجیبه مینه اومحبت وی لکه څنګه چه دګل بختې دلورسره دی . .

(نښتره) زموږ په کورمالت کښې بی مثاله ښکلی اوزړه وړو تکی وه دهغې تورو اوږدو کوڅیو، سپین مخ، پراخه تندی، لیندیو وریځو، غوښینو مړوندو نو او جګې ونې به دهرچا په زړه کښې یوخاص اثر پریښود اویوسپك خمار به یې راپیدا کاه . . . دایوه غریبه او بیوزلی کورنی وه ګل بختې به دپردو کار اومزدوری کوله او نښترې به یوازې دخپل کور غم خوړ. زیاته به دخپلو کوترو او چرګانو سره مصروفه وه او څه وخت چه به یې منګی په سر کړل او او بوراوړوته به ولاړه نو غریبې به له خپلو شلیدلو جامو څخه داسې حیا کوله چه سترګی به ئې له مځکې څخه نه پورته کولې . . .

دکلی شیطان صفتانو به مازدیګر دلښتی غاړه ددې لپاره نیولې وه چه هلته (نښتره) وګوری اودهغه دښایست تماشاو کړی . .

دنښترې دزوړ اوسوری سوری پرتاګه نه به دهغې غوښینی او سپینې پنډی ښکار یدې اودهوس دخاوند اتوپه زړه به ئې چپه را وسته .

کله چه به هغې حیانا کې پیغلې درانه منګی راواخیستل نودزیات دروند والی اوفشارله کبله به غریبه په لارسمه نشوه تللی او کزه وزه به روانه وه ددګې ونې دوه پاخه نارنجان به ئې داسې لړ زیدل لکه دکوترې وړو کی بچی چه په سختو سړو کښې له ځالی بهر پاتی شوې وی .

(ګل بخته) غریبه مزدوره وه په خپلې مزدوری به یې ځان او پیغله اور (نښتره) ساتله . . .

هغه سړی کره چه (ګل بخته) نر کره وه او کار یې کاوه (مامد) نومیده دغه مامد زمونږ دکلی یو دولتمن وپیسې به ئې دبوسو به شان لګولې خو یوازې دشخصی

غرضونو او نفساني خواهشاتو په لاړه کښې . دوه ښځې ئې لرلې . اولاد يې له يوې څخه هم نه درلود . خلکو به ويلې چه د مامد په زيره کښې سپين و لګيدل خود (ښځو) شوق يې له زړه څخه بهر نشو ځکه ورته خداى اولادنه ور کوى . . .

په کلى کښې څه داسې خلك هم ووچه هغوى پټ داګنګوسى کاوه چه دې بر و ښځو شوق خو هغه (شنډ) کړى دى . دواړو وروستيو ښځو يې لاس سره يو کړاو هغه يې دنامرد کړ . داسې خبرې به ډيرې کيدلې خو يوې به هم په (مامد) څه تأثير نه کاوه هر څه به يې دپيسو او دولت په پردو کښې پټول لکه چه اکثر دشتو خاوندان خپلې بيشماره ګناه وې دد ې پردې لاندې کوى او يا ئې دمال دولت لاندى ښخوى او خاورې پرى را اړه وى . .

(ګل بختي) بوډى ددغه مامد د کور کار کاوه . دهغه د بيبيانو خبرى به ئې پا کولې او يا به يې دغوا ميښو غوجلې توږلې او دهغو دخوشا يونه به ئې تپيا کې جوړولې . . مانښام مانښام چه به هغه له کاره خلاصه شوه او کور ته به تللهنو په ډير عذر او کهترى به ئې پود خاورو کنډولى له بى خونده شړومبو څخه ډك کړاو هغه به يې په يوه خاصه علاقه اومينه (نښترې) ته يووړ . . . .

(ګل بختي) غريبې ددغې کورنى درانه بارونه وړل مامد ورته په مياشت کښې (پنځه منه) دا نې ور کولې او (نښترې) به په سرو تنکيو لاسونو د خوشا يى په دو دونو کښې څه پخې څه خامې ابى ته وړاندې کولې داد هغوى دژو ند يوه عادى لاروه دسختولنډ وسره يې دومره عادت شوى وچه نور پرې له سره نه پو هيدل دګل بختي ابى ټوله ستومانتيا به په يو وارد پيغلې لوزد ملاستې سره له منځه ولاړه او په کنډاسه خوله به يې يو درديدلى اوغم لړلى تبسم ښکاره شو .

شپه به تر ډیره پورې موراولور په خبرو تیروله د خپل ژوند په متعلق به یې قصې کولې ددغه قصو په سلسله کښې (نښتری) یوه شپه ابی ته وویل :

ـ ادې ! دا (اصیله) نیاخوله ماڅخه واړوه تل مې ځوروی اوسپکې را ته وایې هغه خوټو کی ده خوزماداسپکې ټو کې نه خوښیږی . . . . کله مې دسینې پورې خاندی اوراته وایی چه د سینې سوردې دیو کټ قدرله دی او کله مې دمټو پورې چه مټې مې دومره غوښینی دی ، چه یویومن غوښه په کښې ده . . . . . .

ګل بختی ابی دنښترې دخبروله اوریدو سره په کرارلاس داوریه سر را ښکو اوپه ناز کی یې هغې ته ویل :

ـ خیردی بچی ! هغه خو دې دنیاپه ځای ده د کلی نر او ښځو سره هغه ټو کی کوی ته یې خبرې زړه ته مه اچوه ، دیوپاك زړه خاونده ده . . . .

نښتره له ځایه راپاڅیده پیکی یې له تندی یوخوا کړاوپه ناراضه آوازیې وویل :

ـ ـ مورې ! زه خونه وایم چه هغه ګنې قصدی داخبرې کوی . نه ! خو په ماښې نه لګیږی نن لا (مامد) کاکاهم هغه واوریدلې . . . .

دغه وخت کښی ګل بختې ابی په حیرت اوډیر تعجب سرپورته کړ . په یو خاص نظریې لورته وکتل اوبیایې ورته پو ښتنه وکړه :

ـ نښترې ! (مامد) کاکاچیرته واوڅنګه یې داصیلې ټو کې واوریدلې . . . .

نښتره دمورپه حرکت پوه شوه . وچولی یې تر یو کړاوځواب یې ورکړ :

ـ اصیلې نیاچه ماسره ټو کې کولې نه په هیږم ، فکر به یې نه ونوچه شاته یې وکتل له ډیر نژدې څخه مامد کاکا تیریده .

دهغه شپې صحبت اوخبرې په همدغه ځای ودریدې میاشتې تیرې شوې . یوه ورځ چه دګر می دلاسه مچانوقیامت را کښته کړی واوسپی ګرګ وهل نوپه ټکنده غرمه

کښې چاد ګل بختې ابی د کوردروازه ووهله نښتره چالا که چالا که ورغله اوچه څنګه یې دروازه خلاصه کړه نومامدیې ولید چه وارخطاولاړدی اودنښترې دلیدو سره یې هغه ته وویل :

-نښترې په موردې سخته چپه راغلی وه خدای لږه ښه کړه خولا پرته ده هغه خو ته پو هیږې چه اپین خوری موردې ویل زماد کټ سرته څه غو ټه کړی پراته دی نو . . . . . .

نښتره اوس په حقیقت پوه شوی وه رښتیا داسې چپه یې په مور څه مو ده مخکښې هم راغلی وه نو بیاو نه دریده په یوه منډه کوټې ته ور ننوتله او .

د (مامد) جوړه کړې نقشه تردی ځایه په پوره مهارت او هوښیاری انجام اوعملی شوه نور معطل نشواو د نښترې پسې تیاری کوټې ته ور ننوت.

(نښتره) یوه بیګناه فرښته وه اودپاکی عفت اوحیاپه پردو کښې اوسیده خو هغه شتمن او مغرور انسان ورله په هغه تیاره کښې دمعصومیت پر دې په ډیر زوراوجبر وشلولې . . . .

نښترې دځان دخلاصولود پاره د (مامد) په قوی پنجو کښې زیاتې لتې ووهلې خوفایده یې ونکړه . . شیبه پس کراره کراری شوه مامد ستړی اوخولې خولې له ځایه راوچت شو بالښت یې دنښترې بیګناه له خولې لری کړ اوچه سترګی یې په ځان ولګیدې نوولړزید او غونی یې زیږ شو .

د (مامد) په سپینو اوښایسته جامودو ینوڅوغټ غټ څاڅکی پراته وو په دې جامو کښې دهغه بهروتل اوس ګرانه خبره وه پاتې کیدې هم نشوځکه دګل بختې ابی د راتلو وخت نژدی شوی و . . . . .

د (مامد) فکر اوس ښه کارنه کاوه یوعجیب روحی انقلاب ورته پیښ شوی وحلق

ئې وچ وچ کیده اودخیال اوتصور په ائینه کښې یې د مرګ جمال لیده .
په ځان نه پوهیده خولې یرې راماتې وې مبهم اوناشناسه آوازونه ئې اوریدل
داسې دتاثیرلاندې راغلې وچه تابه ویل دوجود هیڅ یوغړی یې په طبیعی ډول
کارنه کوی . . .

ویرې وارخطا کړی ود صحیح فکر اوسنجش طاقت ورنه تللی ولکه دلیونی
په شان د کوټې څخه راووت اود کور نیمی ورانې اوزړې ډډې ته چه کوترو په
کښې ځالی اچولی وې په منډه وروخوت اوچه څنګه دهغه سرته ورورسید نودلته
ئی دګل بختی ابی د کوتر ولویه ډله ناڅا په په یو پړک له مخه والوتله .

کوترودالوتو په وخت کښې داسې پړک وکړ چه مامد یی دویرې نه څوقدمه
شاته ولاړ اودشاتللو سره بیا په یوورانه چیغه لاندې دکنډر په غولو اومتیازو کښې
پریوت اود سرماغزه یې بنګټوو شیندل شول . . . پای .

د شوروی پښتو پوهاند ښاغلی

نیکولای دوریانکوف لنډه پیژندنه

شوروی پښتو پوهاند او د پښتو ټولنې افتخاری غړی (۴۰) کلن شوی دی.

ښاغلی نیکولای دوریانکوف د ۱۹۲۳ ع کال د جنوری په دریمه په مسکو کښې دیوه کارګر په کهول کښې دنیا راغلی دی.

سره له دې چه نو موړی د خپل ځلمیتوب په وخت کښې د فلم اخستلو د هنر په میدان کښې د کار کولو خیالات درلودل خو خپل حقیقی استعداد یې په عمومی ژبپوهنه کښې او په تیره بیا د پښتو ژبې او ادبیاتو په مطالعه او تحقیق کښې په کار واچاوه.

په ۱۹٤۱ ع کال کښې د ختیځ پیژندنې د عالی پوهنځی د پښتو په څانګه کښې داخل شو.

په ۱۹٤٥ کښې له پوهنځی څخه فارغ او د استاد په حیث مقرر شو.

په (۱۹٤۹) کښې یې د پښتو د امدادی افعالو په باب یوه رساله خپره کړه.

په (۱۹۵۰) کښې د نو موړی رسالې له مخې د فیلولوژی علوم د کاندید علمی درجه ورته ورکړه شوه.

په (١٩٥٣) کښې داستاذی او په علمی مطا لعاتو کښې د کا میا بیو لا مله د «دوڅینټ» علمی لقب ور کړ شو .

په (١٩٥٧) کښې دشوروی اتحاد دعلومو په اکاډمی کښی داخل او د ختیځ پیژندنې دانستیتیوت دمعاون په حیث وټا کل شو .

په (١٩٥٨) کښې ده ته دهمشر علمی کار کوونکی » علمی لقب ورکړ شو .

په(١٩٥٩) کښې دشوروی اتحاد اود افغانستان تر منځ ددوستی دټولنې دمعاون په حیث انتخاب شو .

په (١٩٦١) کښې دپښتوټولنې دافتخاری غړی په حیث انتخاب اودافغانستان دصدر اعظم فرمان ور ته ور کړ شو .

افغانستان ته دنوموړی پوهاندمسافرتونه:

په ١٩٥٨، ١٩٦٠، ١٩٦١او ١٩٦٢ کښې چه کابل ، غزنی، کندهار ،جلال آباد او لغمان یې لیدلی دی .

په روسی ژبه یې اصلی چاپ شوی آثار :

١ـ«پښتو ژبه»

٢ـ«دپښتو مقدماتی کورس»

٣ـ «دافغانستان په او سنیو ادبیاتو کښې اجتماعی نغمې»

(دنورو په ملگرتیا)

٤ـ«معاصرافغانستان » (دنورو په ملگرتیا)

پرته له نوموړو آثارو څخه یې یو شمیر مقالی هم لیکلې او چاپ کړی دی چه یه هغو کښې یې روسی لوستونکو ته دالفت، بینوا ، ملنگ جان او نورو اشعارور معرفی کړی دی .

په پښتو کښې د دوریا نکوف چاپ شوی مقالې .

آیا پښتو گرانه ده ؟

ادبی نظم او فولکلور

فونتیك او پویتیك ـ او نورې .

دروسی ادبیاتو ډیرې نمونې یې پښتو کړی او په دا ډیو او مجلو کښې یې خپرې کړې دی . دپښتو ادبیاتو خورا ډیرې او خوږې نمونې یې په روسی شعرونو ترجمه کړې دی چه چاپ شوی هم دی .

ممنون

دپیالې کړنګ

پیالې ته کړنګ ور کړه خیال و پا ر وه

چه پا س اسمان هم په کړ نګاراشی

ستادپیالې د کړنګ او کړونګ موزیك کښې

چه کا ئنا ت ټو ل په نخا ر ا شی

د نا امیدی تو ر و تیا ر ونه تنګ شوم

داوچې شونډې او زیړ رنګ مې ګوره

را ځه ر ا ځه سا قی لږ ور حمیز ه

کږې مې ستر ګی مې ستا په لوری دی

ژ بـه لـر مه خـو هیڅ نـه وا یمه

د غه پښتو اود غه ننـګ مې ګوره

د ا ند یښنو د لا س پنډ و سکـه شو مه

تړ لې هیلی مې ستا پو ر ې د ی

پیا لې ته کـړنګ ور کـړه خیال وپاروه

چه پا س اسمان هم په کړ نګا راشی

ستادپیالې د کړنګ او کړونګ موزیك کښې

چه کا ئنا ت ټو ل په نخا ر ا شی

دګلوټل دسیند په غاړه غاړه
غاړه غړی دیار دخیال سره وم
سپینه سپوږمی لکه بیړی روانه
پکښې راز و نه امید ونه پراته
ستوری په سیند کښې پړقیدل نخیدل
په مرګه وخت زه دجمال سره وم
خودسپوږمی له خولې نه داوخته
چه می دې زړه کښې ډیردردونه پراته
که می لید لی کیسې تاته وکړم
ساقی هو تاته بم ژړاړاشی
په توره شپه کښې چه شبنم وریږی
داستوری ژاړی په انسان باندې
ډیری معصومې هیلې خاورې شولې
په دې ژوندون باندې لعنت وایمه
داند یښنو او دغمونو ښکار شول
راغلل او لاړل په ارمان باندې
انسان انسان باندې چه لوبې کوی
داسې انسان باندې نفرت وایمه
که د بیوزلو بیوزلی یاده کړم
کاڼی به هم په شور غوغا راشی
بیوزله غریب دسیند زوږ سره کړم
خپل احساسات دسیند څپوته سپارم

چه څپی زیاتی‌شی ساحل کوڼ کړی
خمـو د جمود ته انقلاب و بښی
زیاتـی دور ځو سره نه غږ یږم
خپلې اسرې به تورو شپو ته سپارم
زه ابشار ونـه اوو ږمـې ستایمـه
ګـوندې می‌ژوندته اب وتاب‌وبښې
چه شاعر زړه کښې‌مې‌اسره ویښه شی
د تخیل خـو لـې ته خندا راشی
ما چه د پوهې بیر حمې ولیـده
نو را تـه غوره لیو نتوب ښکاره‌شو
پښې به و باسم د خودی نه نورې
څم د جنون او د نشې د نیا نه
چه چا ته ګټه فائده نه رسوم
و یښې نه‌غوره راته خوب ښکاره‌شو
چه شنې لوخړې می په مینه مینه
د زړه نه پورته شی د غم فضا ته
ز ما د ژوند د بی نظمی محفل ته
چه نا ز مکیز رحم او وفا راشی
پیالې ته کړنګ‌ور کړه خیال‌وپاروه.
چه‌پاس‌اسمان هم‌په کړنګار اشی

اشرف مفتون

غزل

خندائي په سرو شونډو ګډ يد له دا و يد ه وه

حيا يي په رخسا ر و شر مید له دا و يد ه و ه

جذبات يي په وجود کښې په درنجکو باندې سروو

مستی يي په سينه کښې درز يد له دا و يد ه و ه

د رازې تورې زلفې يي په مخ خوږې ورې و ې

سپوږمۍ غوندې وريځ کښې پټ کيدله داويد ه وه

هوا په مينه مينه ـ غلی غلی تخنو ا ـــــه

په خوب کښې او ړيد له راوړ يدله د اويد ه وه

د ذهن په ا سما ن يي آوا ره د عشق نغمې و ې

شپيلۍ و ر ته د مينې غږ يد له د ا و يد ه و ه

دعشق ومحبت په ښايسته ښکلی بو ستا ن کښې

د مينې په ټا او ټو ز نګيد له د ا و يد ه و ه

دشپې په شومه دم ـ توره تياره چپه چپيا کښې

په تاخ کښې ورته شمع ژړيدله داويد ه و ه

پته

غازی وات، شمالی برخه، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دتلیفون لمبر (۲۱۲۹۱

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

دباندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy.....: Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Sidiq Rohi

Coeditor : M. Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه